# په مخکې اوږده پرته لار:

# په افغانستان کې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع

# د قانون تطبیق



© UNAMA

یوناما

او ایچ سی ایچ آر

**کابل – افغانستان**

**د ۲۰۱۱ کال نومبر**

# د افغانستان نقشه




منبع: د ملګروملتونو د کارتوګرافی مرکز

## د مطالبو فهرست


اصطلاحات ... i

قضايي صلاحيت ... ii

میتودولوژي ... iii

۱- د راپورلنډیز ... 1

بنسټیزې سپارښتنې ... 4

۲ زمینه ... 6

(۱) د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون انفاذ ... 6

(۲) د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون نمیګړتیاوې ... 7

د خاصو احکامو تطبیق ... 8

۳- د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه موندنې ... 9

(۱) د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د قضیو عدلی تعقیب ... 9

(۲) د څارنوالیو له خوا د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق ... 11

د هرات ولایت: د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پراخ پلي کیدل ... 12

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې لپاره اختصاصی څارنوالی ... 13

(۳) د محاکمو له خوا د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د قانون تطبیق ... 15

ستره محکمه ... 17

(۴) د افغان ملي پولیسو له خوا د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پلي کول ... 18

(۵) د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په قضیو کی د منځګړیتوب او د مسئلو د حل کولو د دودیزو میکانیزمونو کارول ... 22

۴- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره کمیسیونونه ... 28

(۱) د ښځو په وړاندې د خشونت د منع عالی کمیسیون ... 28

(۲) ولایتي کمیسیونونه ... 29

۵- پایلې ... 31

۶- سپارښتنې ... 32

ضمیمه ۱ – د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون ... 35

## اصطلاحات

| | |
|---|---|
| AGO | د لويی څارنوالی دفتر |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون |
| CID | د جنايي تحقيقاتو رياست |
| DOWA | د ښځو د چارو رياست |
| EUPOL | په افغانستان کی د اروپايی اتحاديی پوليسو ماموريت |
| EVAW Law | د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون |
| FRU | د کورنی غبرګون څانګه |
| IDLO | د قانون د پرمختيا نړيوال سازمان |
| JSSP | د افغانستان د عدلی سکتور ملاتړ پروګرام |
| MOWA | د ښځو چارو وزارت |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره ملی کاری پلان |
| NGO | غير حکومتي موسسه |
| OHCHR | د بشری حقونو لپاره دمګرو ملتونو د عالی کميشنر دفتر (او ايچ سی ايچ آر) |
| UNAMA | دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندويه پلاوی (يوناما) |
| UNFPA | د نفوسو لپاره د ملګرو ملتونو پانګه |
| UN Women | د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره |
| VaW | د ښځو پر وړاندي تاوتريخوالی |

### پښتو، دری او عربي لغتونه

بد: د قتل يا نورو جرمونو جبران لپاره د ښځې ورکول

قباحت: هغه جرمونه چې سزا يې تر دريو مياشتو پورې کيدای شي.

جرګه: د مشرانو غونډه

محرم: ميره، ښځه يا نور نږدې خپلوان چې واده کول ورسره مشروع نه دي.

شريعت: د قوانينو مجموعه چې له قران کريم او پيغمبر محمد (ص) له ښوونو او کړنو څخه را اخيستل شوي وي.

شورا: محلي غونډه

تعهدنامه: ژمنليک

علماء: ديني پوهان

زنا: له ودګني ژوند څخه بهر جنسي اړيکي

## قضايي صلاحيت

دغه راپور د يوناما د هغه مأموريت له مخي تيار شوی چي د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۹۷۴ [۲۰۱۱] پريکړه ليک په ذريعه ورکړل شوي:

"د افغانستان په اساسي قانون او نړيوالو تړونونو کي چي افغانستان يې غړيتوب لري د بشري حقونو او بنسټيزو ازاديو د احکامو، په تېره بيا د هغو احکامو چي د ښځو د بشري حقونو له پياده کولو سره اړه لري، په بشپړ تطبيق کي مرسته وکړي."

د ۱۹۷۴ [۲۰۱۱] پريکړه ليک ۳۷ پاراګراف د افغانستان د حکومت د ژمنی څخه چي "قربانيانو ته د جبران ورکولو د خدمتونو په ګډون د ښځي پر علیه د تاوتريخوالي د منع د قانون د تطبيق لپاره يوه ستراتيژي طرح کوي" هرکلی کوی.

يوناما/د بشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو د عالی کميشنر دفتر (او ايچ سی ايچ آر) د افغانستان له حکومت، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او د مدني ټولني له سازمانونو، په ځانګړی توګه د ښځو د مدني ټولني ګروپونو، سره يو ځای يو لړ فعاليتونه پيل کوي چي هدف يي د ښځو د حقونو پرمختګ دی څو دوي له تبعيض او تاوتريخوالي څخه پرته ژوند وکړي.

د يوناما د بشری حقونو څانګه په افغانستان کی د بشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو د عالی کميشنر دفتر (او ايچ سی ايچ آر) استازيتوب کوی او بشپړ ملاتړ يی له ځانه سره لری او هر کال دخپلو کړنو په هکله خپل راپور د عالی کمشينر له لاری د بشری حقونو شورا ته وړاندی کوی.

## میتودولوژي

دغه راپور په کابل او اتو سیمه ییزو دفترونو کي د یوناما/د بشری حقونو لپاره دمګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر (او ایچ سی ایچ آر) د بشري حقونو د څېړونکو له خوا په ترسره شویو څېړنو باندې ولاړ دی چې د ۱۳۸۹ کال د کب او د ۱۳۹۰ کال د لړم (۲۰۱۱ کال د مارچ او سپتمبر) میاشتو تر منځ بشپړ شوی دی. د یوناما/د او ایچ سی ایچ آر افسرانو د څارنوالانو، قاضیانو او پولیس افسرانو له خوا د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د تطبیق په اړه او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی په اړه د ولایتي کمیسیونونو د فعالیتونو په باب مفصل احصاییوي او بنیادي معلومات راغونډ کړي دي.

برسیره پر دی یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ټول هیواد په ۳۳ ولایتونو د ۶۷ تنو څارنوالانو، ۵۱ پولیس افسرانو، ۴۳ قاضیانو، د ښځو چارو د وزارت او د ښځو چارو د ریاستونو ۴۵ تنو استازو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۱۷ استازو سره ۲۶۱ مرکی ترسره کړی دی.[1] په ۱۳۸۹ او ۱۳۹۰ (۲۰۱۰ او ۲۰۱۱) کلونو کي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د انفرادي قضیو څارنه او د حکومتي چاراوکو، غیر حکومتي موسسو او د ملګرو ملتونو د ادارو له خوا د راپورونو او اړونده سندونو بیا کتل د مرکو بهیر بشپړ کړ.

دی راپور د ۱۳۸۹ هجری شمسی کال په اوږدو کي (۲۱ مارچ ۲۰۱۰- ۲۰ مارچ ۲۰۱۱) د حکومت له خوا د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په لومړنی کال او د ۲۰۱۱ کال د اپریل څخه تر سپتمبر مودی پوری پر اضافی پلټنو باندی متمرکزه شوی ده.

دغه راپور هغه احصایي او ارقام راغونډ کړي دي چې له مخې یې له ۳۴ ولایتونو څخه د ۳۱ ولایت په مرکزونو کي د ۱۳۸۸ د کب له میاشتي څخه د ۱۳۸۹ تر کب پورې (۲۰۱۰ کال له مارچ څخه د ۲۰۱۱ کال تر همدې مودې پورې) د قضایي چاراوکو له خوا د قانون د عملي کولو څرنګوالي څرګندوي.[2] پولیس، د څارنوالی دفترونو او ښاري محکمو ارقام برابر کړي او یوناما/ او ایچ سی ایچ آر هغه تحلیل کړي دي، که څه هم ټولو چاراوکو معلومات په سیستماتیک ډول نه دي برابر کړي او یا هم د دي کار لپاره اماده نه وو چې دا ډول معلومات شریک کړي. راپور داسي سندونه نه دي راغونډ کړي چې د ولسوالیو د محکمو او څارنوالی له خوا او یا د استیناف د محکمو او ستری محکمي له خوا د قانون د تطبیق په اړوند معلومات ورکړي، خو په عمومي توګه ورته اشاره شوی ده.

راپور د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي یو شمیر قضیې یادوي چې بیلا بیلو موسساتو ته رسیدلي دي، لکه افغان ملي پولیس، د ښځو د چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون. راپور په دې اړه څه نه وایي چې ایا د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی په افغانستان کي مخ په زیاتیدو او که کمیدو دی.

د ښځو چارو وزارت په ۱۳۸۴ (۲۰۰۶) کي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه ارقام راغونډول پیل کړي او د هغه په ډیتابیس کي د ارقامو زیاتوالی ښایي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د شمیر په اړه نور ښه معلومات برابر کړي.[3] یوناما، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UN Women)، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د کورنیو چارو وزارت او دافغانستان د ښځو شبکه، د ښځو چارو د وزارت د ډیتابیس په ګډون ټولی هغه هڅې تقویه کوي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیې تعقیبوي.

---

[1] د لاسرسی د محدویتونو له کبله یوناما/او ایچ سی ایچ آر ونه شوای کولای دهلمند له چاروا‌کو سره مرکه وکړی.
[2] دافغانستان هر ولایت یوه قضای حوزه او ګڼ شمیر ولسوالی قضای حوزی لری چی زیاتره یی په خپل تشکیل کی حد اقل یوه محکمه او یو څارنوالی لری. په دی راپور کی د لوګر، نورستان او وردګو په هکله معلومات د محدوده لاس رسی له وجی بشپړه نده. د نورستان په هکله ځینی معلومات په ننګرهار ولایت کی د نورستان د چاروا‌کو سره د مرکو په ترڅ کی ترلاسه شوی.
[3] د ۱۳۸۹ هجری شمسی کال په اوږدو کی د ښځو چارو وزارت ۴۱۰۳ قضیی ثبت کړی دی (په دی پته موجودی: www.mowa.af.gov). د دی وزارت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د ثبتولو مفصل معیارونه د جوړیدو په حال کی دی او د دی راپور د لیکلو په وخت کی اماده نه وه.

## ۱- د راپورلنډيز

*ما د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی یوه قضیه هم نه دی ثبت کړی. امنیت پوری اړوند اندېښنې، پخوانی دود او دستور او روانی خنډونه (لکه شرم او ویره) ښځې نه پرېږدی چی محاکمو ته لاړی شی.*

د ولایتی محکمی چارواکی، د خوست ولایت[4]

د افغانستان حکومت د ۱۳۸۸ په زمري مياشت (د ۲۰۰۹ په اګست) کې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون په انفاذ سره د ښځو او نارينه وو د برابرۍ او د ښځو د حقونو په ساتلو کې يو ستر ګام پورته کړ. دې مهم قانون په لومړی ځل په افغانستان کې د ماشومانو نجونو ودول، جبري ازدواج، په جبري ډول د ځان سوځونه، او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۱۹ نور عملونه، د جنسی تجاوز په ګډون، د جرم په توګه وپيژندل او د هغو مرتکبينو ته سزاګاني وټاکل. دغه راپور د ۱۳۸۹ کال د وری څخه د ۱۳۹۰ کال تر لړم (۲۰۱۰ د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر سپتمبر) پورې موده کې د قضايي چارواکو او د قانون تطبيق کوونکو ادارو له خوا په ټول افغانستان کې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون تطبيق تر کتنې لاندې نيسي او په دې برخه کې ټول پرمختګونه او تشې په ګوته کوي.[5]

راپور د او ايچ سی ايچ آر/يوناما له خوا د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي (د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر) خپور شوي راپور کې*"په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون تطبيق"* راغلي موندني، پوره کوي. نوموړی راپور د ښځو پر وړاندې ناوړه دودونه تثبيت او په ګوته کوي چې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د ښځو پر وړاندې له تاوتريخوالي سره په مبارزه کې يوه ښه وسيله ده، ځکه خشونت او تاوتريخوالي په هغو دوديزو کړنو او روشونو کې ژورې ريښې لري چې ښځو ته مساوي حقونه نه ورکوي او په کورنيو کې د ننه له ښځو سره په ناروا وو پرده غوړوي. دغه راپور دا هم موندلې ده، چې د حکومت، په تېره بيا د پوليسو او څارنوالانو، له خوا د قانون په تطبيق کې کمزوري هڅې شوې دي او دې ته اړتيا شته چې دغه هڅې ګړندی شي.

د دې راپور لپاره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر څېړنې څرګنده کړې چې قضايي چارواکو د هيواد په ډېرو برخو کې د دې قانون په تطبيق کولو پيل کړی دی، خو د هغې تطبيق کول په فيصدي لحاظ کم شمير داسې هڅې دي چې وښيي حکومت څنګه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيې حل کوي. يوناما/او ايچ سی ايچ آر موندلې ده چې د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون له لارې له خشونت څخه د ښځو د بشپړې ساتنې په لار کې لا اوږده مزل په مخ کې پرته ده.

په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د شکايتونو په اړه هر اړخيزې رسمی احصايي نشته او ډېرې پيښې له راپورنو څخه پاتې کيږي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ۱۳۸۹ په کال کی (د ۲۰۱۰ د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ د مارچ تر ۲۰ پورې)، چی د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالی د منع د قانون د تطبيق لومړنی کال دی، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۲۲۹۹ پيښې ثبت کړي دي چې د دی قانون له مخی جرم ګڼل کيږی. که د پيښو موجود شميره د اساس په څېر قبوله کړو، د يوناما/او ايچ سی ايچ آر څېړنې دا ومونده چې د ۳۴ ولايتونو له جملې څخه په ۲۸ ولايتونو کی د ټولو ۲۲۹۹ پيښو له جملی څخه ۲۶ سلنه [۵۹۴ قضيی] د څارنوالانو له خوا ثبتي شوی، ۷ سلنه يې [۱۵۵ قضيی] محاکمو ته سپارل شوی، او پر ۴ سلنی [۱۰۱ قضيو] باندی د ابتداييه محاکمو له خوا د ښځې پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون په اساس پريکړه صادر شوی دی.[6]

---

[4] د خوست د ولایتی محکمی د چارواکو سره د یوناما/او ایچ سی آر مرکه، د ۱۳۹۰ د وری ۲۹ (د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۸).

[5] افغانستان په خپل ټول رسمی ریکارډونو کی لمریز کال کاروی. څنګه چی د دی راپوړ د میتودولوژی په برخه کی یادونه شوی، د ۱۳۸۹کال (د ۲۰۱ کال د مارچ ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ ار ۲۰) مفصل احصایی او د۱۳۹۰ کال د وری څخه د لړم (د ۲۰۱۱ د اپریل څخه د سپتمبر) تر مودی پوری د قضایی او د قانون د پلی کوونکی ارګانونو له خوا د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق په باب عمومی معلومات یه دی راپور کی شامل دی.

[6] دافغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون د قضایاو د ثبت معیارونه د پولیسو او د څارنوالی د معیارونو سره شباهت لری خو کټ مټ یو شانته نه دی. دغه ۲۸ ولایتونه عبارت دی له: بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندی، فراه، فاریاب، غزنی، غور، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، خوست، کنړ، کندز، لغمان، لوګر، ننګرهار، نیمروز، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، پروان، تخار او زابل. د کاپیسا، سمنګان، سرپل او ارزګان په ولایتونو کی

که څه هم یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د عملی کیدلو بهیر امید بخښوونکی وینی، د عدلی تعقیب لاندی د شکایتونو او قضیو ټیټه کچه دا څرګندوی چی دولت لا تراوسه هم د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په قضیو کی دغه قانون په پراخه توګه عملی کړی نه دی.

په ۱۷ ولایتونو کی څارنوالانو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د قضو په وړاندی د دعوی اقامه کړی دی.[7] د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د ۶۸ قضیو په ثبتولو او د ۳۵ قضیو په رسیدګی سره د هرات ولایت په هیواد کی د ټولو نه مخکښ ولایت پیژندل شوی. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی په کابل کی تقریبا د ټول هیواد نیمایی قضیی ثبتی کړی دی (د کابل څخه د رارسیدلی ۲۸۵ قضیو برسیره ۴۷ قضیی د ۱۹ نورو ولایتونو څخه رارسیدلی دی). سره د دی دیر لږ شمیر قضیی محاکمو ته د راجع شوی دی، د ۲۰۱۰ کال د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر مارچ پوری دغه اختصاصی څارنوالی یوازی ۲۱ قضیی د کابل محاکمو ته سپارلی دی.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر د افغانستان په جنوبی او جنوب ختیځو سیمو کی د مایوسو نجونو او ښځو د ځان سوځونی یو زیات شمیر قضیی هم ثبت کړی دی. د دغو قضیو اکثریت یی د پولیسو له خوا نه دی تحقیق شوی په داسی حال کی چی د ښځی پر علیه د تاوترخوالی د منع قانون د ۲۱ مادی له مخی ځان سوځونی ته مجبورل جرم پیژندل شوی.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر دا هم موندلی ده چی که څه هم د قتل او نورو جدی جرمونو ځینی قضیی د چی د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخی جرم ګڼل شوی د دی پر ځای د یاد شوی قانون په اساس تعقیب شی د جزا د قانون له مخی تر عدلی تعقیب لاندی نیول شوی دی چی په نتیجه کی ځینی وخت مجرمین برائت حاصل کړی، د دوی اتهام ټیټ او په عادی جرمونو متهم شوی، د دوی مجازات کم شوی او یا هم ښځینه قربانیانی په "اخلاقی جرمونو" تورنی شوی دی.[8]

دغه راپور دا موندلې ده چې د ښځو پر وړاندې د خشونت ډیرې قضیې چې پولیس او څارنوالی ته یې خبر ورکول کیږي له رسمي قضایي سیستم څخه پرته تر غور لاندې نیولی کیږي- د منځګړیتوب، د شکایتونو بیرته اخیستل، او د مشرانو له خوا د شخړو د حل کولو د دودیزو طریقو په ذریعه. یوناما/او ایچ سی ایچ آر د کورني تاوتریخوالي ډیرې قضیې وموندلې چې د منځګړیتوب له لارې حل شوي په دې کې داسې موسساتو منځګړیتوب کړی لکه د پولیسو د کورنی غبرګون څانګه، د ښځو چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون.

په منځګړیتوب باندې تکیه کول تر یوې اندازې هغه میلان څرګندوی چې ډیرې ښځې چې شکایتونه ثبتوي، خصوصا د خپلو میړنو په مقابل کې، خو چاروا کي په نامناسب ډول دوي ته سلا ورکوي یا فشار وربانديٍ اچوي چې خپل شکایتونه بیرته واخلي او د دې لپاره د منځګړیتوب له میکانیزم څخه استفاده کول نړیوالو د ښو کړنو او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له روحیې او متن سره تضاد لري، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مجرمین تر عدلی تعقیب لاندې نیسي، د خشونت قربانیان ساتي، او د نور تاوتریخوالي مخه نیسي.

د قانون له انفاذ څخه راهیسی، په ۲۸ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي کمیسیونونه جوړ شول ،چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې باید د دې قانون له تطبیق سره مرسته وکړي.[9] یوناما/او ایچ سی ایچ آر وموندله چې اوس مهال ۱۶ کمیسیونونه فعال دي او په منظم ډول غونډې لري. ډیری یی د قربیانیانو

---

څارنوالانو د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون په اساس پیښی ثبتی کړی نه دی. یوناما/او ایچ سی ایچ آر ونه شوای کولای چی د نورستان او ودګو د ولایتونو په باب کافی معلومات لاس ته راوړی.

[7] دغه ۱۷ ولایتونه عبارت دی له: بدخشان، بلخ، بامیان، دایکندی، فراه، فاریاب، غزنی، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کنړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، پکتیا او تخار.

[8] د جنسی تجاوز [د ښځی په ړواندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د ۱۷ مادی (۱) او (۲) فقری]، اور اچونی او د کیمیاوی موادو د استعمالولو [د همدی قانون د ۲۰ مادی (۲) فقره]، او ټپ او معلولیت [د دی قانون د ۲۲ مادی (۲) فقره] له امله د مړینی په قضیو باندی څارنوال باید د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون تطبیق کړی. "اخلاقی جرمونو" په اصل کی زنا (له ودګنی ژوند څخه بهر جنسی اړیکی)، "د کور څخه تیښته" او "د زنا قصد" دی. زنا د جزا د قانون او د شریعت د قانون له مخی جرم ګڼل کیږی خو "د کور څخه تیښته" او "د زنا قصد" د افغانستان په قوانیو کی جرم نه دی. افغان چارواکی اکثرا د جنسی تجاوز قربانیانی یا هغه نجونی او ښځی چی له کور څخه تښتی د زنا یا "د زنا د قصد درلودلو" په جرم متهم کوی.

[9] هغه ۶ ولایتونه چی کمیسیونونه یی تراوسه فعاله شوی نه دی په لاندی ډول دی: هلمند، کابل، کندهار، نورستان، پکتیکا او زابل.

سره مرسته کوی او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په هکله پوهاوی ورکوی. تقریبا ټول کمیسیونونه هڅې کوي چې خپلې دندې سرته ورسوي او د والیانو، د ښځو چارو د وزارت او نورو حکومتي چارواکو د لازیات ملاتړ او سرستو ته اړتیا لری.

که څه هم د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د عملي کیدلو په حال کې دی، خو لکه څنګه چې په دغه راپور مستند شوی دی، د دغه قانون له حمایتی مقرراتو څخه د ښځو او نجونو بې خبري، د دی قانون غیرمنظم تطبیق کیدل او د ناوړو کړنو دوام د دې مانا لري چې ښځې له جبري ازدواجونو او تاوتریخوالي څخه تښتي، خو لږه ساتنه یې کیږي. د ښځو پناه ځایونه، چې په افغانستان کی نوی دی، د مؤقتي ساتني لپاره د ښځو ژوند ژغوري. د افغانستان د وزیرانو شورا د ۱۳۹۰ د وری په ۱۴ (د ۲۰۱۱ د سپتمبر په ۵) په هیواد کې دښځو د ساتنې د مرکزونو په اړه قواعد تصویب کړي دي. دغه قواعد هغه مهم خدمات په پام کې نیسي چې په حکومتي او غیر حکومتي مرکزونو کې باید ترسره شي، د دوي د فعالیتونو لپاره معیارونه وضع کوي چې د اوسیدونکو د حقونو او کرامت ساتندوي دي. د دې قواعدو انفاذ او د پناه ځایونو له ایجادولو سره یو ځای په هغو ځایونو کې چې لا تر اوسه نه دي ایجاد شوي، ښایي ډیری ښځو ته د دې امکان برابر کړي چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له حمایت څخه برخمنې شي.

د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پر وړاندې اوسني ګواښونه د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان (۲۰۰۸-۲۰۱۸) یو بنیادي عنصر دی چې د افغانستان د قانونی چوکات او قضایي سیستم بیا کتنه غواړي څو په اساسي قانون او نړیوالو کنوانسیونو کې د ښځو د برابرۍ او عدم تبعیض تسجیل شوي اصول وساتل شي. د کابل په نړیوال کنفرانس (۱۳۸۹) کی دولت پر خپلو ژمنو باندی یو ځل بیا تاکید وکړ او "د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان د چټک تطبیقولو په منظور د ظرفیت جوړولو" ملی پروګرام ته وده ورکړ. د دی پروګرام موخه دا دی چی د اړوندو دولتی نهادونو د ظرفیتونو د لوړلو له لاری د پالیسی جوړولو؛ د پلانونو او پروګرامونو د طرح کولو؛ د بودیجی د ترتیبولو؛ د فعالیتونو د عملی کولو او نظارت، راپور ورکونی او ارزونی په وخت کی د عمل دغه پلان تطبیق ته ځای ورکړی.[10] د افغانستان د قانون او عدالت د ټولو لپاره پروګرام، چې په ملي کچه د لومړیتوب حق لري او د نظارت او همغږۍ مشترک بورد له خوا تصویب کیږی، له لوي څارنوالی، ستره د محکمې، او د عدلیې وزارت څخه غوښتنه کوي چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په انفاذ کې زیاته مرسته وکړي او له نړیوالو دونرانو څخه یې د مالي مرستو غوښتنه کړې ده.

د ښځو پر وړاندې ناوړه دودیزو کړنو او تاوتریخوالي ښځې په عامه ژوند کې له ګډون څخه منع کړې دي او د فیصلو په نیولو او په مجلسونو کې د دوي اواز نه اوریدل کیده. د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په تطبیق کې پرمختګ ښځو ته ددې توان ورکوي چې د سولې او پخلاینې په اوسنی پروسه کې مهمه ونډه ولري.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر په دې تاکید کوی ، چې دغه راپور کولای شي د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په ارزونه کې د یوه بنسټ مثال ولري، د هغو عواملو ښه پیژندنه وشي چې د تعقیب مخنیوی کوي یا هغه رهبري کوي، د هغو ستونزو اندازه څرګندوی چې ښځې عدالت ته درسیدو په لار کې ورسره مخ دي او د پوهاوي د سطحې د لوړولو او روزنیزو پروګرامونو په ارزونه کې مرسته کوي.

د دې هدف لپاره یوناما/او ایچ سی ایچ آر له حکومت څخه غواړي، چې د ښځو او نارینه وو ترمنځ په ښاري او کلیوالو سیمو کې او د حکومت په ټولو کچو کې د پوهاوي سطحه لوړه کړي. ستره محکمه، د کورنیو چارو وزارت او لویه څارنوالي باید خپلو کارمندانو ته په ټولو کچو کې لارښوونه وکړي چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په اغیزناک، سم او چټک ډول پلې کړي. په ډیرو سیمو کې پولیس، څارنوالان او قاضیان هم دې ته اړتیا لري چې د قانون د پلې کولو په اړه لازیاته روزنه واخلي.

---

[10] لومړیتوب لرونکی ملی پروګرامونه د افغانستان د ملی انکشاف ستراتیژی په چوکاټ کی د دولت هغه پروګرامونه دی چی د کابل په کنفرانس (۲۰۱۰) کی د تطبیق ژمنه شوی دی. د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان په اړه دغه پروګرام د نظارت او همغږی مشترک بورد له خوا د ۱۳۹۰ کال د تلی په ۲۷ (د ۲۰۱۱ د اکتوبر په ۱۹) تصویب شو. د لندن د موافقتنامی او د افغانستان د ملی انکشاف ستراتیژی د تطبیق همغږی په موخه د نظارت او همغږی مشترک بورد (JCMB) د افغانستان د دولت او نړیوال ټولنی له خوا د ۱۳۸۴ کال په مرغومی (د ۲۰۰۶ په جنوری) کی تاسیس شو.

نړیوال دونران باید موجوده پروګرامونو څخه پوره ملاتړ وکړی چی د ښځو په وړاندی د تاوترخوالی سره مبارزه کوی، د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په تطبیق کی له حکومت سره زیاتی مرستی او همکاری وکړی او د روزنی، نظارت او پوهاوی د لوړولو لپاره زیاتی منابع برابر کړی تر څو دغه قانون چټکتیا سره تطبیق او ښځی له تاوتریخوالی څخه وساتل شی.

## بنسټیزې سپارښتنې

### د لوي څارنوال دفتر ته

- ټولو څارنوالانو ته هدایت صادرول او هغوي ته روښانه کول چې د ښځو پر وړاندې د خشونت کوم ډول قضیې باید تر جنایي تعقیب لاندې ونیولې شي او کوم ډول یې منځګړیتوب ته وسپارلې شي.
- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو جدي جرمونو لپاره باید عدلی تعقیب تضمین شي.
- په کابل کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی کارونه و ارزول شي څو پیدا شي چې ولې له ثبت شویو قضیو څخه یوازې څو تعقیب شوي او څنګه کیدای شي د دوي د کار نور تقویه شي.

### د کورنیو چارو وزارت ته

- د جنایي تحقیقاتو ریاست ته هدایت وشي، د کورنیو د غبرګون د څانګې په ګډون او د جرمونو هغه ډولونه ورته ښکاره شي چې د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره وي او په باره کې یې تحقیقات وشي چې یا څارنوالی ته وسپارلي شي او یا د منځګړیتوب لپاره ګوښې شي.
- د دې یقین ورکړی چې پولیس افسران د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه دوي ته رسیدلي قضیې په مناسب ډول ثبتې کړي، د هغو قضیو په شمول چې منځګړیتوب په کې شوی دی یا د منځګړیتوب لپاره راجع شوي وي، لکه څنګه چې د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په ۷ ماده کې د هغې یادونه کوي.
- د دې ډاډ ورکړي چې د کورنیو د غبرګون څانګه د جنایي تحقیقاتو د ریاست د یوې برخې په ډول د تخنیکي تحقیقاتو په ټولو روزنو کې شامله وي او د کورني تاوتریخوالي، جنسي تیری او د خشونت نورو ټولو قضیو په تحقیقاتو کې ګډون ولري.
- د دې ډاډ ورکړي چې ټولې ښځینه پولیس افسراني مسلکي وظیفو ته ګمارل شوي او د دوي د ترفیع لپاره په مساوي ډول پاملرنه کیږي.

### ستري محکمې ته

- د عمومی جزا دیوان او د قضایی تفتیش ریاست ته لارښوونه وشي چې د محکمو له خوا د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د تطبیق څارنه وکړي، کله چې د ښځو پر وړاندې د خشونت قضیې څیړل کیږي.

### د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر وړاندې د خشونت د منع عالی کمیسیون ته

- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي د ولایتي کمیسیون لپاره د وظایفو د لایحې برابرول، د دوي د غړو په شمول او ښځو پر وړاندې د خشونت د قضیو د ثبت او تعقیب په اړه لارښوونې.

- د ښځو د حقونو د غير حکومتي موسسو د استازو، د امن ځايونو د مديرانو او د نړيوالو همکارانو په ګډون مدني ټولنې ته بلنه ورکړل شي چې د عالي کميسيون په غونډه کې د مشاهدينو په ډول برخه واخلي، چې د خاصو مسئلو په اړه راپور ورکړي او د کميسيون کارونه په فعالانه ډول تقويه کړي.

**نړيوالو دونرانو ته**

- د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د تطبيق په منظور د دولت د هڅو او ابتکاراتو څخه (لکه: د پوهاوی ملی کمپاينونه، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع د ولايتي کميسيون سره د مرستي او روزنې، او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع عالي کميسيون سره تخنيکي مرستی) د لازيات ملاتړ لپاره د همغږو تخنيکی مرستو د پلانونو او پروګرامونو پوره تطبيق کول او تمويلول.
- د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان د بشپړ تطبيق کيدو، د قانون او د ټولو لپاره عدالت د پروګرامونو او د عمل د ملی پلان د چټک عملی کيدو لپاره د ظرفيت لوړونی څخه پوره ملاتړ او د هغه تمويلول.

مفصل سپارښتنی د دی راپور په پای کې راغلي دي.

## ۲ زمینه

میلیونونه افغان ښځې او نجونې له تاوتریخوالي سره مخا مخ دي چې په هغو دودیزو کړنو او روشونو کې ریښې لري چې له نارینه وو سره د ښځو برابري ردوي. دود، دستور په کورنیو کې دننه له ښځو سره په خشونت پرده غوړوي، او پولیس او قضایي چارواکي په معمول ډول په کورني تاوتریخوالی سترګې پټوي او هغه ښځې نیسي او توقیف کوي چې له جبري ازدواجونو او کورنیو تیریو ځخه تښتي. د یوناما/د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنر دفتر (او ایچ سی ایچ آر) خپاره شوی راپورونه، *چوپتیا خشونت دی: په افغانستان کې د ښځو پر حقونو تیری ته خاتمه ورکړی*، چنګاښ ۱۳۸۸ (جولای ۲۰۰۹)، او *په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق*، لیندی ۱۳۸۹ (ډسمبر ۲۰۱۰) له هغو ډیرو راپوروںو ځخه دي چې په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې پراخه تاوتریخوالی ثابتوي.[11]

### (۱) د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون انفاذ

د ښځو پر وړاندې پراخه تاوتریخوالی د افغانستان حکومت دې ته وهڅاوه چې د ۱۳۸۷ د زمري په میاشت (۲۰۰۹، اګست) کې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون نافذ کړي. په دې کار سره حکومت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي عملونه د جرم په حیث پیژني او مرتکبین يې عدالت ته راوړل کیږي، چې په قانوني لحاظ یو ډیر مهم ګام دی.

دغه قانون د ښځو د حقونو د فعالینو د مبارزې په لار کې له کلونو وروسته یوه لویه بریا ده. دغو مبارزو د قانون په جوړولو او تصویب کولو کې مرسته کړې ده. د دې قانون انفاذ د افغانستان د اساسي قانون قانوني ژمنې چې ښځو او نارینه وو ته مساوي حقونه ورکوي[12] او د افغانستان هغه ژمنې عملي کوي چې د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د تړون د تصویب په وخت کې یې کړې دي.[13]

د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د ښځو پر وړاندې د خشونت ۲۲ بیلا بیل ډولونه تعریفوي: جنسي تیری؛ فحشا ته مجبورول؛ د یوه قرباني هویت په داسی ډول خپرول چې هغی ته زیان ورسیږی؛ سوځول او د کیمیاوی موادو استعمالول؛ د ژوبلیدو یا معیوب کیدو لامل ګرځیدل؛ وهل او ټکول؛ د ازدواج لپاره یا د دې پلمې د لاندې د ښځو خرڅول او اخیستل؛ په بدو کی ورکول (د شخړو د هوارولو لپاره د ښځې ورکول)، اجباري ازدواج، د میره د انتخاب ځخه منع کول؛ له قانوني عمر ځخه د مخه ودول؛ ښکنځل کول، تحقیرول یا ډارول؛ ازارول یا ځورول؛ اجباري ګوښه کول؛ په جبري ډول په مخدره موادو اخته کول؛ د میراث له حق ځخه محروم کول؛ د مال او ملک د درلودلو له حق ځخه محروم کول؛ د تعلیم، کار او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي له حقونو او د قانون له مخی د ورکړ شویو نورو حقونو ځخه محروم کول؛ جبري کار؛ له یوې ښځې ځخه زیاتې ښځې کول بې له دې چې د مدني قانون ۸۶ ماده په نظر کې ونیسي؛ او د قرابت نفی کول.

دغه قانون هغو کسانو ته جزا ورکوي چې د دغو جرمونو مرتکب شي او دواړه، محکمې او ځارنوالي، ته هدایت راکوی چې د خشونت قضیو ته د لومړیتوب حق ورکړي او بې له ځنډه په هغو غور وکړي.[14] د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون افغان ملي پولیسو ته ددې صلاحیت ورکوي، چې له قربانیانو سره مرسته وکړي، د انفرادي اشخاصو حقونه او ازادي وساتي، جرمونه کشف، تحقیق او په وړاندې یې مبارزه وکړي، او په ښکاره دوي په دې مکلف ګڼي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي شکایتونه ثبت، له هغو سره د قانون سره سم چلند وکړي او دښځو چارو وزارت له خپلو فعالیتونو خبر کړي.[15]

---

[11] دواړه راپورونه په انګلیسي، پښتو او دري ژبو، په دې پته موجود دي:
http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid= 4654

[12] په ځانګړی توګه د اساسي قانون ۲۲ ماده وګوری.

[13] د ۱۳۵۹ کال د زمری په ۲۴ (د ۱۹۸۰ کال د اګست په ۱۴) لاسلیک او د ۱۳۸۱ کال د کب په ۱۴ (د ۲۰۰۳ کال د مارچ په ۵) تصویب شو.

[14] د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۷ (۴) ماده.

[15] د پولیسو د قانون ۵ او ۲۶ مادی، د جزایي اجرااتو مؤقت قانون ۲۹ (۲) ماده او د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۷ او ۱۳ مادی وګوری.

د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون دغه راز حکومت په دې مکلف کوي چې د قربانیانو په ګټه محافظتي اقدامات ونیسي او هغوي ته مرستي ورکړي. دغه قانون ۷ وزارتونو ته مشخص مسؤولیتونه ورکوي او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی ملي عالي کمیسیون یې تشکیل کړی. په دې کمیسیون کې حکومتي وزارتونه او ریاستونه غړیتوب لري. عالي کمیسیون د هیواد ۳۴ ولایتونو ته لارښوونه کړې چې په ولایتي کچه د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون لاندي کمیسیونونه ایجاد کړي.

زیات شمیر بین المللي دونرانو د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون انفاذ تقویه کړی. د مثال په توګه، په د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو ادراه (UN Women) د ښځو چارو له وزارت سره څو اړخیزې تخنیکي مرستي کړې دي، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی عالي کمیسیون رهبري کوي. د قانون د پرمختیا نړیوال سازمان (IDLO) د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی سره په روزنه، اداري چارو او ښوونه کې مرستي کړي دی. دې سازمان دغه راز په هرات کې څارنوالان او په کابل، کندهار، هلمند، ارزګان، زابل، ننګرهار، کنړ او لوګر ولایتونو کې قاضیانو ته روزنه ورکړې ده.

د امریکی د متحده ایالاتو له خوا د افغانستان د عدلي سکټور د ملاتړ پروګرام (JSSP)[16] په کابل کې د پولیسو او څارنوالانو لپاره د جنایي تحقیقاتو په اړه او د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په باب سیمینارونه تمویل کړي دي. دینکورپ[17] چې په امریکا کې د حکومتي خدمتونو د عرضه کولو یوه قراردادي موسسه ده د ملي پولیسو د کورني غبرګون له څانګي سره په روزنه او ښوونه کې مرسته کوي، چې د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په تطبیق کې لویه ونډه درلودلای شي، په افغانستان کې د اروپایی اتحادیي پولیسو ماموریت (EUPOL) د کورني غبرګون د څانګي او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی لپاره د جنایي تحقیقاتو او د ښځو پر وړاندې د خشونت په اړه روزنیز پروګرامونه طرح او پرمخ بېولي دي.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ښځو پر وړاندې د خشونت د څارني لپاره په ټول هیواد کې پروګرامونه نیولي دي. "په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق" راپور یې خپور کړی، په ۲۳ ولایتونو کې یې د پوهاوي فعالیتونه او روزني ترسره کړي. همدارنګه یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ښځو چارو ریاستونو لپاره یې د کمیسیونونو د تشکیل او وظیفو په اړه لارښووني او تخنیکي مرستي برابرې کړي.

## (۲) د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون نمیګړتیاوې

که څه هم د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په هغې مبارزه کې یو مهم پړاو دی چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یو جرم ګڼي، سره د دې هم په دې قانون کې د ښه والي په مقصد ممکنه تعدیلاتو په اړه مباحثې په هغه وخت کې پیل شوي چې کله دا قانون نافذ شو. د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د "ناموس" تر نامه لاندې جرمونه د جرم په حیث نه دي پیژندلي او ځیني نور جرمونه لکه جنسي تیری، او جبري عنصر چې د خپلې خوښې له زنا (له ودګني ژوند څخه بهر جنسي اړیکې) څخه تفریق کیدای شي په ښکاره ډول نه دي تعریف کړي.

قانون د دې لاښوونه نه کوي چې چارواکي به له هغي ښځي سره څه ډول چلند وکړی چې کورونه له هغو روشونو څخه د خلاصون په نیت پریږدي چې قانون جرم بللي دي. د انفرادي قضیو په څارنه کې، یوناما/او ایچ سی ایچ آر د نجونو داسي قضیو سره مخامخ شوه چې له جبري ازدواجونو یا کورني تاوتریخولي څخه یې کورونه پرې ایښي او وروسته بیا نیول شوي وي او معمولاً د "زنا د قصد په درلودلو"[18] تورني شوي وي. که څه هم د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د داسي تیریو مرتکبین مجرمین ګڼي، خو هغو نجونو ته هیڅ ډول محافظت نه ورکوي، چې

---

[16] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د بین المللي مخدره موادو او د قانون د انفاذ د چارو د فتر له خوا تقویه شوي.
[17] د امریکا له یوځ سره د قرارداد له مخي، دینکورپ د افغانستان د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو ته د روزني او ښووني خدمتونه برابر کړي.
[18] د زیاتو معلوماتو لپاره په دې راپور کې د "ستری محکمی" برخې ته مراجعه وکړی.

له دغو جرمونو څخه تېښتي. د افغانستان په محبسونو کی د " اخلاقی جرمونو" تر نامه لاندی د یو زیات شمیر توقیف شوی ښځو ساتل د دی وضعی خرګندونه کوی.[19]

دغه راز، قانون له قربانی یا د هغې له خپلوانو څخه غوارې چې شکایتونه ثبت کړي (په جدي جرمونو کې لکه د ازدواج لپاره د یوې ښځې خرڅول یا اخیستل، بد، په کم عمر کې ازدواج، او د ژوبلې یا معیوبیدو باعث کیدل) پخوا له دې چې دولتي موسسې په عمل لاس پورې کړي. که چیرې هیڅ شکایت نه وي ثبت شوی او یا ښځه د کورنی د فشار یا د غچ اخیستني د بیرې په وجه شکایت بیرته واخلي، دولت مکلفیت نه لري چې قضیه تحقیق یا تعقیب کړي. دغه حالات د دې قانون لویې نیمګړتیاوې دي چې په راتلونکې کې تعدیلاتو ته اړتیا لري.

## د خاصو احکامو تطبیق

### ۳۹ (۲) ماده ــ د شکایت څخه تیریدل

د یوناما/او ایچ سی ایچ آر څارنه ښیي چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۳۹ (۲) ماده چې شکایت کوونکی ته اجازه ورکوي چې خپل شکایت د قضایي جریان په هره مرحله کې بېرته واخلي یوه له هغو موادو څخه ده چې ډېر ځله ورته مراجعه شوې ده.[20] د ۳۹ (۲) ماده د ځینو کتونکو په نظر ضروري بریښي ځکه د زندان د سختو سزاګانو په نظر کې نیولو سره چې قانون یې د ځینو جرمونو لپاره ورکوي او د هغو ښځو د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په پام کې نیولو سره چې مېړونه یې د ډیرې مودې لپاره په محبس کې وي،[21] خو د دې مادې کارول ډېر ځله ښځې د کورنیو او ټولنیزو فشارونو لاندې راولي.

### ۴۲ ماده ــ د مجازاتو نه تعلیقول، عفو کول او تخفیفول

سترې محکمې په وروستیو وختونو کې د دې قانون ۴۲ ماده لغوه کړې[22]، چې د قانون له مخې د محکوم شوي شخص د بند کمښت یا بخښنه منع کوي چې دا د ولسمشر له خوا د اساسي قانون پر مبنی له امتیازي بخښنې سره مغایرت لري.[23] د ۴۲ مادې غرض په ښکاره ډول دا و چې د ښځو پر وړاندې په تاوتریخوالي محکوم شوي مجرمین نه شي کولای چې د سیاسي طرفداری یا فساد په ذریعه له بند څخه خلاص شي. ځینو قضایي چارواکو یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته وویل چې د ۴۲ ماده د عمل په ډګر کی د دی لامل ګرځیدلی چې څارنوالان د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع له قانون څخه ډېر لږ کار واخلی. د فاریاب د ولایتي محکمې د جزا د دیوان مشر وویل چې څارنوالان دې ته ترجیح ورکوي چې تورن کسان د جزا تر قانون لاندې راولي، ځکه چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په بند محکوم شوی شخص ته د بخښیې فرصت نه راکوی.[24]

که څه هم د دې قانون بیا کتنه د ښځو د حقونو د بشپړ تضمین لپاره ضروري بریښي، یوناما/او ایچ سی ایچ آر او د ښځو ګروپونه په دې باور دي چې اوسني قانون که په اغیزناک ډول تطبیق شي د ښځو د حقونو د ساتلو لپاره ډېره ښه وسیله ګرځیدای شي او د هغو عملونو د کمښت سبب به وګرځي چې میلیونونه افغاني ښځې او نجونې زیانمنې کوي.

---

[19] د یوناما/او ایج سی ایچ آر دغه راپور ته مراجعه وکړی: *په افغانستان کی ناوړه دودونه او د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق*، د ۲۰۱ کال ډسمبر.
[20] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی ۳۹ (۲) ماده: " مجنی علیها کولی شی، د دی مادی په ۱ فقره کی په درج شوو مواردو کی، د عدلی تعقیب په هر پړاو (کشف، تحقیق، محاکمه، یا محکومیت) کی له خپل شکایت خخه تیره (منصرفه) شی، پدی صورت کی د دعوا څیړل او د جزا تطبیق درول (متوقف) کیږی." جنسی تجاوز، فحشاء ته مجبورول، د قربانی د هویت ضبطول، ثبتول او د هغه خپرول، اور اچول یا د کیمیاوی موادو استعمالول، او ځان سوځونی یا ځان وژنی ته مجبورول د استثنایي جرمونو په حیث منل شوي چې باید تر عدلی تعقیب لاندی ونیول شی.
[21] د میډیکا- افغانستان له قانوني وکیلانو سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، ۱۲ زمری ۱۳۹۰ ( ۱۳ اګست ۲۰۱۰).
[22] د مجازاتو د نه تعلیقولو، عفو کولو او تخفیفولو په اړه ۴۲ ماده: " د تاوتریخوالی د جرمونو د محکومانو مجازات تعلیق،عفو یا تحفیف کیدی نشی."
[23] د سترې محکمې مصوبه، د ۱۳۹۰ کال د زمری ۲ ( ۲۰۱۱ جولای ۲۷): "د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ۴۲ مادې او ددې پوښتنې په اړه چې د بخښنې او د جزا د کمولو په اړه د ولسمشر د فرمانونو د تطبیق په لار کې ستونزې جوړوي، د سترې محکمې عالي شورا څرګندوي چې د محبوسینو د جزا کمول او بخښل د اساسي قانون له مخې د ولسمشر له صلاحیتونو څخه دی، چې کولای شي په هره طریقه یې وکاروي، له دې امله د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون دغه ماده د افغانستان د اساسي قانون سره مغایرت لري، څرنګه چې هیڅ یو قانون له اساسي قانون څخه وړاندې کیدای نه شي، نو له دې امله دغه ماده لغو ګڼل کیږي او د تطبیق وړ نه ده."
[24] د فاریاب د ولایتي محکمې د جزا د یوان له مشر سره د یوناما /او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ د وری ۱۱ (د ۲۰۱ کال د مارچ ۳۱).

## ۳- د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه موندني

### (۱) د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د قضیو عدلی تعقیب

د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په لومړی کال کې[25] څارنوالانو د ۳۴ ولایتونو له جملی څخه په ۲۸ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ۵۹۴ قضیې د دی قانون له مخی ثبتي کړي دي.[26] داسي برېښي چي دغه رقم د نوي قانون لپاره یو معقول پیل دی چي د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالي هغه کړني ګواښوي چي ریښي یې ډیری ژوری وي خو څارنوالانو یوازی ۱۵۵ قضیې د دغو شکایتونو ثبتي کړي او دوسیې یې ترتیب کړی او ابتداییه محکمی د دغو قضیو له جملی څخه۱۰۱ قضیې د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون لاندې تر محاکمي لاندې نیولي دي.

په ۱۷ ولایتونو کی څارنوالانو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د قضو په وړاندی د دعوی اقامه کړی دی.[27] د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی د ۶۸ قضیو په ثبتولو او د ۳۵ قضیو په رسیدګی سره د هرات ولایت په هیواد کی د ټولو نه مخکښ ولایت پیژندل شوی. د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی په کابل کی تقریبا د ټول هیواد نیمایی قضیی ثبتی کړی دی (د کابل څخه د رارسیدلی ۲۸۵ قضیو برسیره ۴۷ قضیی د ۱۹ نورو ولایتونو څخه رارسیدلی دی).[28] سره د دی دیر لږ شمیر قضیی محاکمو ته د راجع شوی دی، دغه اختصاصی څارنوالی په ۲۰۱۰ کی یوازی ۲۱ قضیی د کابل محاکمو ته سپارلی دی.




---

[25] د ۲۰۱۰ کال د مارچ د ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۰ پوری (یا د ۱۳۹۰ لمریز کال)، په افغانستان کې هجری شمسی کلیزه رسمیت لری.

[26] دغه ۲۸ ولایتونه عبارت دی له: بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندی، فراه، فاریاب، غزنی، غور، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار، خوست، کنړ، کندز، لغمان، لوګر، ننګرهار، نیمروز، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، پروان، تخار او زابل.

[27] دغه ۱۷ ولایتونه عبارت دی له: بدخشان، بلخ، بامیان، فراه، فاریاب، غزنی، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کنړ، کندز، لغمان، لوګر، ننګرهار، پکتیا او تخار.

[28] د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی د کابل څخه پرته له نورو ولایتونو څخه ۴۷ قضیی ثبتی کړی دی او له ابتدایی تحقیقاتو څخه وروسته دغه دوسیی اړوندو ولایتی څارنوالانو ته راجع شوی دی. د دغه ۴۷ قضیو له جملی څخه ځینی قضیی کیدای شی چی په ۵۹۴ قضیو کی هم شامل وی چی د ولایتونو د څارنوالیو له خوا ثبتی شوی دی.

د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې د ۵۹۴ قضیو ثبتول د څارنوالانو له خوا په ۱۷ ولایتونو کې څرګندوي چې دغه قانون د هیواد په ډیرو برخو کې د عملي کیدو په حال کې دی. خو دغه شمیر د ۲۲۹۹ شکایتونو څه زیات څلورمه برخه ښیی چې د۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال په اوږدو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون له خوا ثبتی شوی دی.[29]

که د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون رقم د اساس په څیر ومنو[30]، یوناما/او ایچ سی ایچ آر دې نتیجې ته رسیږي چې د څارنوالی له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو پیښنو له جملی څخه تقریبا ۲۶ سلنه [۵۹۴ قضیی] ثبت شوی دی، ۷ سلنه یی [۱۵۵ قضیی] محاکمو ته سپارل شوی او ۴ سلنی [۱۰۱ قضیو] په محکمو کې د دې قانون پر بنیاد تر غور لاندې نیول شوی دي.

په هغو ولایتونو کې چې یوناما/او ایچ سی ایچ آر په کې د قانون د تطبیق نشتوالی مشاهده کړی لکه کاپیسا او ارزگان کمزورې حکومتداري یا هم د ادارې نشتوالی، زیاته نا امني او په پراخه پیمانه تبعیضی دودیزې کړنې د دې لامل شوي چې قانون له تطبیق څخه پاتې شي.[31] په دغه ولایتونو کی ښځې او نجونی ډیرې کمې له کورونو څخه وځي او لږ شمیر یی ښوونځیو ته ځي. که څه هم ښځې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع له قانون څخه خبرې دي؛ ښځې معمولا په دې نه توانیږي چې پولیسو او یا هم څارنوالانو، د ښځو د چارو ریاستونو یا هم د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون دفتر ته لاسرسی ولري.

څرنگه چې د خوست د ولایت د ولایتی محکمې مشر یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته وویل:

*"ما تر اوسه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي یوه قضیه هم نه ده ثبت کړې. امنیتي اندیښنې، دودونه او رواجونه او اروایي خنډونه چې د شرم او ډار لامل ګرځي ښځې دې ته نه پریږدي چې خپلې قضیې محکمې ته راوړي."*[32]

[29] د ۱۳۹۰ په هجری شمسی کال کی (د ۲۰۱۰ کال د مارچ د ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۰ پوری) د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ښځی په وړاندی د تاوتریخوالی ۲۷۶۵ پیښی ثبتی کړی چی له دی جملی څخه ۲۲۹۹ پښښی کولای شی چی د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخی جرمونه تعریف شی.

[30] د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د قضایاو د ثبت معیارونه د پولیسو او د څارنوالی د معیارونو سره یو څه شباهت لری خو کټ مټ یو شانته نه دی. علاوه له دی، یاد کمیسیون ممکن ځینی داسی شکایتونه ترلاسه کړی وی چی خپلی قضیی د ولسوالی په هغو قضایی حوزو کی وړاندی کړی اوسی چې د یوناما /او ایچ سی ایچ آر له خوا سروی شوی نه دی .

[31] د نورستان او وردګو د ولایتونو په هلکه معلومات بشپړ نه دی.

[32] د ولایتی محکمې د مشر سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه ۱۳۹۰ د وری ۲۹ ، (د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۸ نېټه )، د خوست ولایت د څارنوالی دفتر سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۲۰۱۱ کال د اپریل ۱۸. د خوست د ښار د څارنواالی دفتر دوه دوسیې ثبت کړې دي، خو دغه دواړه شکایتونه د شکایت کوونکو له خوا بیرته اخیستل شوي دي.




* د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د قضایاو د ثبت معیارونه د پولیسو او د څارنوالی د معیارونو سره یو څه شباهت لری خو کټ مټ یو شانته نه دی.[33]

## (۲) د څارنوالیو له خوا د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق

څارنوال د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کېدو لپاره یو کلیدي عنصر او شخص دی. هغه تفتیش/تحقیق کوي، د احضارولو پاڼي لیکي، د پولیسو نیونې تصدیقوي،[34] متهم کسان توقیف او تر عدلي تعقیب لاندې نیسي او حتی د دمحاکمو دپریکړو په تطبیق کی مرسته کوي.[35] د څارنوال د اقداماتو کیفیت او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په مناسب ډول پلي کولو کې هغه لاربښووني شاملي دي چې د ښځو پر خلاف د تاوتریخوالي په قضیو کې په څېټکی سره عمل وکړي.[36] دا په عمومي صورت سره ټاکي چې ایا د تاوتریخوالی قرباني ښځې عدالت تر لاسه کوي او که نه. نور افغاني قوانین د څارنوال دا دنده تقویه کوی چې د ټولو اتباعو د حقوقو ساتنه وکړي، مجرمین د عدالت منګولو ته راولي او باوري کړي چې قوانین پلي شوي دي.[37]

---

[33] هغه ارقام چی یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ولایتی پولیسو له ادارو، څارنوالیو او محکمو څخه تر لاسه کړی دی جامع نه دی ځکه چی دغه اداری د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د قضیو یو دقیق، مفصل او بشپړ ریکارډ نه ساتی.

[34] د جزایی اجرااتو مؤقت قانون له مخې څارنوال باید د پولیسو له خوا ترسره شوی ټولې نیونې تایید او یا هم تورن خوشې کړي. د عدلي پولیسو د مقرراتو ۲۹ ماده، ۱- عدلي پولیس خپلې دندې د څارنوال د هدایت او نظارت لاندې ترسره کوي. ۳۳ ماده، د پولیسو د پریکړو تایید. ۱- ابتدایه څارنوال وروسته له دې چې ورته اطلاع ورکړل شي چې عدلي پولیسو هغه فعالیتونه چې په ۳۰، ۳۱ او ۳۲ مادو کې راغلي دي ترسره کړي نو یا د عدلي پولیسو کړنې تصویبوي او یا هم د هغو د لغوه کولو او یا تعدیل لپاره پریکړې کوي.

[35] د جزایی اجرااتو مؤقت قانون ۸ ماده، وروستی پریکړه، ۴ فقره، په ابتدایه محکمه کې څارنوال باید وروستی پریکړې عملي کړي. دې پایلې لپاره د استیناف محکمه اوستره محکمه باید څارنوال ته په ابتدایه محکمه کې دا وسپاري چې لومړنی پریکړه یې کړې ده، په دوسیه کې باید د محاکمې اسناد او مصادره شوې توکي شامل وي. د عدلي تعقیب ۲۲ ماده، ۱۳ فقره.

[36] د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون ۷ (۴) ماده، "څارنوالی او محکمه مکلف دي، د تاوتریخوالی قضیه په لومړیتوب کی ونیسی او لنډ وخت کې یی وڅیړی."

[37] د عدلي تعقیب قانون، ۱۲ ماده د څارنوالۍ د دفترونو د ندې او مسوولیتونه...۲- د سیاسي حقونو، د کار د حق او نورو هغو حقونو ساتنه چې په اساسي قانون او نورو قوانینو کې مسجل شوي دي.... ۴- د مرکزي او محلي ادارو، دولتي، خصوصي او مختلطو موسسو، سیاسي ګوندونو، ټولنیزو سازمانونو، رسمي کارمندانو او اتباعو لپاره په برابره توګه د قانون تطبیق او د هغه نظارت.... ۱۳- د محکمې د پریکړو د تطبیق او اجرا کولو د چارو څخه څارنه.

د لويي څارنوالی دفتر يوه مختصره خو واضح لاربنود د ۱۳۸۹ کال د مرغومي په ۱۸ (د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۸) نېټه ټولو څارنوالانو ته صادره کړې ده چې په ټولو هغو قضيو کې چې د ښځو پر وړاندي د تاوتريخوالي د عدلي تعقيب لپاره دي د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون پلی او عملي کړي.

" د ښځي پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون د رسمي جريدې په ۹۸۹ ګڼه کې د ۱۳۸۸ کال د وري په ۱۰ نيټه (۳۰/ ۳/ ۲۰۰۹) کې نشر شوی دی او له همغې نېټې نافذ دی، خو د جنسي تيری په قضيو او د ښځو په وړاندي د تاوتريخوالي په قضيو کې څارنوالان او قاضيان لا تر اوسه هم د جزا د قانون په مادو او يا هم د افغانستان د اساسي قانون په ۱۳۰ ماده باندې استناد کوي. دغه ډول اقدامات د قوانينو غلط تطبيق دی او د دې لامل ګرځي چې احکام رد شي، په دی هکله څارنوالی بايد په جدي توګه دې مسئلي ته پام وکړي."

يوناما/او ايچ سی ايچ آر دا مستنده کړې ده چې ځينې قضاييه چارواکي د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پرته نور قوانين په تيره بيا د جزا قانون او د شرعيت قانون د دعوی ګانو او مجازاتو پر مهال کارولي چې په نتيجه کې، په ځينو قضيو کې مجرمين برائت حاصل کړی يا لږ جزا ورته ټاکل شوی او يا هم ښځينه قربانيانی په "اخلاقی جرمونو" تورنې شوی دی.[38] د ولسوالی په کچه د څارنوالانو زياته روزنه او د لويی څارنوالی دوامدار نظارت کولای شي چې د دی قانون د تطبيق کچه لازيات کړی په خاصه توګه د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالي د جدی جرمونو عدلی تعقيب.

يوناما/او ايچ سی ايچ آر دا هم ثبت کړی چې د استيناف څارنوالانو د قانون په پوهيدنه کي بريالي وو او د لومړني پړاو د څارنوالانو پاتي راتلل يي د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د پلي کولو په برخه کي اصلاح کړل چې په کي لاندني قضيي شاملي دي:

- د بدخشان د ولايت د شهر بزرګ د ولسوالی پوليسو د يوې ۲۲ کلنې ميرمنې د شکايت په برخه کې تحقيق وکړ دا چې هغه د ميره او د ميره د خپلوانو له خوا وهل کيږي. څارنوالی خپل تحقيقات بشپړ کړل او قضيه يې د ولسوالی محکمې ته واستوله، چې محکمې مجرمين يوازې زر افغانی (۲۲ ډالر) جريمه کړل. د بدخشان د استيناف محکمې څارنوال د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۲۳ مادی (وهل او ټکول) له مخی د دغه حکم په وړاندی اعتراض وکړ او د ۱۳۸۹ کال د تلی په ۲۲ (د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۱٤) نيټه ولايتی محکمې ميره د دريو مياشتو په بند محکوم کړ.[39]

- په دايکندي کې د استيناف څارنوال د ابتدايه محکمې حکم تر اعتراض لاندې ونيو چې ابتدايه محکمې هغه ۶۰ کلن ملا چې پر دوو کوچنيو نجونو باندې جنسي تيری کړی و او محکمې هغه د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د ۳ او ۱۷ مادو په پام کې نيولو سره د زنا په تور تورن کړی و، خو د استيناف محکمې د هغه رد کړ.[40]

## د هرات ولايت: د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون پراخ پلي کيدل

د هرات څارنوالان د هيواد په کچه لومړني اشخاص وو چې د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون کارونه يې پيل کړی، چې د ۱۳۸۸ کال د زمری څخه د ۱۳۸۹ د وری تر مياشتي ( د ۲۰۰۹ کال د اګست د مياشتي څخه د ۲۰۱۰ کال د مارچ د مياشتي تر ۲۱) پوري يي د قانون د انفاذ په موده کي ۲۶ قضيي او د دې وروسته موده کې يې نور ۶۸ قضيي محکمو ته راجع کړی دی.[41] د هرات محاکمو د دی کال په جريان کي په ۳۵ دوسيی کی د ښځي پر

---

[38] د يوناما/او ايچ سی ايچ آر له خوا په ټول افغانستان کی د ښځی په وړاندی د تاوتريخوالی د انفرادی قضيو نظارت (د ۲۰۱۰ کال د مارچ څخه د ۲۰۱۱ کال تر سپتمبر پوری).

[39] د يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته د بدخشان ولايت د استيناف د څارنوالی د غبرګون يادداښت.

[40] د دايکندي ولايت د استيناف د څارنوال سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د ۱۳۸۹ کال د زمری ۱۷ (د ۲۰۱۱ کال د اګست ۸)، په دی راپور کی د "محاکمو له خوا د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالی د منع د قانون تطبيق" برخه وګوری.

[41] د هرات د څارنوالی د مشر سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د غبرګولی ۳ (د ۲۰۱۱ کال د می ۲۴). برعکس د څارنوال د نورو دفترونو سره چې يوناما/او ايچ سی ايچ آر مشوری کړې دي نو د هرات د ولايت ريکارډ دا جوتوي چې دغلته ټولې راجستر شوې قضيې په محاکمو کې د

علیه د تاوتریخوالي د منع قانون پلی کړی دی. د هرات ولایت د څارنوالی رئیس دغه قوي ریکارډ د دی ولایت د کلیدی نهادونو ګډو هڅو، د IDLO له خوا د هرات څارنوالانو لپاره روزنیزو پروګرامونو برابرول او د څارنوالانو ښه فعالیت ته منسوبوی.[42]

دهرات د څارنوالانو له خوا د دی قانون د پلی کیدو یو بل مثال په نظامی محکمه کی د هغو پولیس افسرانو محاکمه ده چې پر یوې ۱۵ کلنې نجلی یې جنسي تیری کړی وو. د افغان ملي پولیسو د څلورو کسانو له خوا د ۱۳۸۹ کال د غویي په ۱۱ ( د ۲۰۱۰ کال د اپریل په ۳۱) نېټه د غوریانو په ولسوالی کې په هغې نجلۍ جنسي تیری ترسره شو چې نوموړې د اجباري واده له کبله د خپله کوره د هرات د ښار پر لور په تېښته کې وه. څارنوالۍ دغه څلور کسان د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۱۷ مادې له مخې په جزا محکوم کړل. که څه هم چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون پر نا بالغی نجلی باندی د جنسی تجاوز لپاره دوام حبس ټاکلی (۱۷ (۲) ماده) خو نظامي محکمې هغوي ته د ۱۲ څخه تر ۱۴ کلونو پوری د زندان د جزا حکم اعلان کړ. د استیناف نظامی محکمه هم هغوی محکوم کړل خو د د دوی د بند موده له ۶ څخه تر ۷ کلونو پوری راټیټ کړ.[43]

په بله قضیه کې څارنوالانو د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۲۲ ماده او د جزا د قانون ۳۹۵ ماده تطبیق کړې چې له مخې یې د دووه ګوني قتل قضیه تعقیب کړې. دوه خویندې ۱۵ او ۱۷ کلنې د هرات ولایت د کرخ په ولسوالی کې د د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په ۱۴ ( ۲۰۱۰ د جولاي په ۵) نېټه قتل شوې. د راپور له مخې ۱۷ کلنې نجلی د دې څخه انکار درلود چې د هغه شخص سره چې کورنی ورته غوره کړی واده وکړي. پنځوو تنو د هغې د راتلونکي میره د خپلوانو او دوو نورو کسانو په شمول پر دوي برید وکړ او په کور کې یې ووژلې. پولیسو دغه ۵ تنه د ۱۳۸۹ کال د تلې د میاشتې په ۱۳ (د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۵) نېټه ونیول. د استیناف محکمې وروسته درې تنه خوشې کړل خو د دوو نورو لپاره چې یو یې د وژل شوې نجلی کیدونکی میره او بل یې خسر و د ۱۶ کلونو په زندان محکوم کړل.[44]

د هرات په ولایت کې زیاتره قضیې چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې دوسیه شوې او عدلی تعقیب شوي دي د وهلو او ټکولو قضیې دي. په نورو قضیو کی لاندی موارد شامل دی: د ۲۲ مادی له مخی د ټپ لامل ګرځیدل (تقریبا ۱۰ سلنه)، د ۲۹ مادی له مخی د ښکنځل کول، تحقیرول او ډارول (تقریبا ٦ سلنه) او د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخی د جرمونو له امله رامنځ ته شوی قتلونه (تقریبا ٦ سلنه).

دا به ډیر ژر وي څو وویل شي چې د هرات د ولایت ګرندی هڅې چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلې کیدو لپاره دي د دې لامل شی چې هلته د ښځو په وړاندې په تاوتریخوالي کې کموالی راشي. د قضیو په اړه مؤثق او کره احصاییوي ارقام شتون نه لري، او نړیواله تجربه دا په ډاګه کوي چې د حقونو څخه د پوهاوي زیاتوالی د دې شرایط برابر وي چې د قضیو راپور ورکول زیات شي. د هرات په ولایت کې د دغه جریان له نږدې څخه مطالعه به ګټور معلومات د هغو هلو ځلو په اړه چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې په برخه کې دي په ملي کچه برابر کړي.

## د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالۍ

د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی د ۱۳۸۹ کال د حمل (۲۰۱۰ د مارچ ) په میاشت کې پرانیستل شو چې هغه د دې صلاحیت او واک لري چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي دوسیې تحقیق او د عدلي تعقیب لاندې ونیسي او د قضایي محکمې په جریان کې د قربانیانو ملاتړ او مرسته وکړي. د لویې

عدلي تعقیب لپاره استول شوي دي. دا کولای شي دا جوته کړي چې په نورو ځایونو کې دوسیې او کیسونه رسیدلي او بیا وروسته بیرته خارج شوي او تړل شوي دي.

[42] د هرات ولایت د څارنوالی د مشر سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۲۰۱۱ د می ۲۴.

[43] د نظامي څارنوالۍ د رئیس سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د هرات ولایت، د ۱۳۹۰ کال د وری په ۲۹ ( د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۸ ).

[44] د هرات د ولایت د ولایتي څارنوالی د دفتر د عامه امنیت د څانګې د قتل او تجاوز د برخې د مشر سره د یوناما مرکه، د ۱۳۹۰ کال د غبرګولي ۳ نېټه ( ۲۴ مي، ۲۰۱۱).

څارنوالی په تشکیل کې د ۱۳۸۹ کال د  وږي (د ۲۰۱۰ کال د جون) په میاشت کې شامل شو او په دغه اختصاصی څارنوالی کې ۱۱ څارنوالان او ۱۱ نور کارکوونکي دي.

دغه اختصاصی څارنوالی د هیواد د هرې برخې څخه قضیې مني، خو زیاتره ورته د کابل د ښار او ولایت څخه راځي، چې د دې لپاره دا لومړنی او ابتدایه مرجع ده.[45] د سره دی دی چې دغه اختصاصی څارنوالی د ۱۳۸۹کال د وری څخه کب (د ۲۰۱۰ د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر مارچ) پوری د کابل څخه رارسیدلی ۲۸۵ قضیې ثبتې کړې دي، خو یوازې ۲۱ قضیې محکمو سپارلی دي. د ۲۸۵ اصلي قضیو څخه چې په کابل پورې اړوندې دي ۷۶ یي د قربانیانو له خوا د (۳۹) مادې له مخې بیرته خارجي شوې دي.[46] په ډیرو نورو قضیو کې د شکایت تعقیب نه دی شوی، د معلوماتو له مخې د قضیې څخه صرفنظر شوی دی.[47]

د جنایی تحقیقاتو په چارو کی د لویی څارنوال مرستیال یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته وویل چې د ډیر لږ قضیی تر عدلي تعقیب لاندې راغلي دي ځکه چی د ۷۰ سلنی څخه زیاتې قضیې تړل شوي، یا په کې منځګړیتوب شوی او یا هم ارشیف شوي دي، که څه هم چی دغه جدی جرمونه نه بلکې یوازې کوچني تقصیرات او خطاوې دي.[48] ډیر شمیر پاتې قضیی طلاقونه او د مدني خصلت لرونکي قضیې دي چې کورنی محکمې ته راجع شوي دي. یوازې په لږ شمیر کې هغه قضیې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیې دي چې په کې جدی جرمونه شامل دي، تر عدلي تعقیب لاندې دي. د لویی څارنوال مرستیال په زیات شمیر کې منځګړیتوب او د قضیې بیرته اخیستل چې د ښځو له خوا ترسره کیږي او خپل شکایتونه بیرته اخلي په افغاني کلتور او دودونو پورې وتړل.[49]

د حقوقي مرستي برابروونکی څو غیر دولتي موسسي چې د یوناما/او ایچ سی ایچ آر له خوا ورسره مشوری شوې دی وویل چې اختصاصی څارنوالی دې ته ترجیح ورکوي چې قضیې د منځګړیتوب د لارې حل کړي. یوه ښځینه مدافع وکیله وایي: *"د کورنی ژغورنه د دې ایجاب کوي چې په ټولو قضیو کې باید عدلي تعقیب و نه شي... د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی ښه وسیله ده چې میره د پخلاینې میز ته راوستل شي له دې امله چې هغوي د عدلي تعقیب څخه ډار لري نو هغوي هغه وړاندیزونه چې د ښځو په وړاندې د اختصاصی څارنوالی له خوا د پخلاینې په موخه شوي دي قبلوي".*[50] نور مدافع وکیلانو دا په ډاګه کړل چې ځینې ښځو شکایت کړی دی خو هغوي نه غواړي چې سره جلا شي او یا هم دا چې خپل میره چې د دوي یوازینی نفقه راوړونکی دی په زندان کې واچول شي نو ځکه هغوي د پخلاینې لپاره موافقه کوي.[51]

د حقوقي مرستي بل برابرونکی یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته وویل: "کله چې موږ هلته یو (اختصاصی څارنوالی)  نو ګورو چې درې او یا زیاتې قضیې راځي، خو د دغو قضیو زیاتره یې د وهلو ټکولو قضیې دي چې د ښځې او میره ترمنځ د منځګړیتوب د لارې حل کیږي."

یوناما/او ایچ سی ایچ آر د دی وړاندیز کوی چې لویه څارنوالي د نړیوالي ټولنې په مرسته (که چیری غوښتنه وشی) د اختصاصی څارنوالی ارزونه وکړي، د دغې څارنوالی د عدلی تعقیب ټیټه کچه او د رارسیدلو شکایتونو د خارجولو او بیرته اخیستلو لوړه کچه تر ازمایښت لاندی ونیسی تر څو دا راپه ګوته کړی چې د اختصاصی څارنوالی له خوا د.شکایتونو د څیړلو په طرز کې بدلونونو ته اړتیا شته او که نه. دا په ځانګړې توګه د د ې لپاره مهم دي چې همدا

---

[45] د کابل پولیس ځیني وخت د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون اړوندې قضیې د څارنوالی نورو څانګو ته راجع کوي، خو هغوي عموما دغه قضیې اختصاصی څارنوالي ته را استوي. کله چې شکایت کوونکي د نورو ولایتونو څخه راځي نو اختصاصی څارنوالی یو ابتدایه تحقیق کوي (د قرباني یا بل شاکی سره مرکه کوي، شکایت کوونکي طبی کتنې لپاره استوي او د قضیې دوسیه ترتیبوي) او بیا هغه دغه دوسیه هغه ولایت او ولسوالی ته استوي چیرته چې دغه پیښه واقع شوې ده.

[46] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی هغه ارقام چې د قانون د پرمختیا د نړیوال سازمان (IDLO) له خوا د ۱۳۹۰ کال د غویي په میاشت  (د ۲۰۱۱ په میَ) کې یوناما/او ایچ سی ایچ آر سره شریک شوي دي.

[47] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی له چارواکی سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، ۱۳۹۰ کال د غبرګولي ۲۲ نیټه  (۱۲ جون ۲۰۱۱ ).

[48] جنایت، تقصیرات او قباحت (ناوړه سلوک) د جزا (جملې) په امتداد  تعریف شوی چې د محکومیت سره تعقیب کیږي.

[49] د جنایی تحقیقاتو په چارو کی د لوی څارنوال مرسیتال ښاغلی نور الحبیب جلا ل سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه ، د ۱۳۹۰ کال د زمری ۱۹ نیټه ( د ۲۰۱۱ کال د اګست ۱۰ ).

[50] یوناما/او ایچ سی ایچ آر د میډیکا افغانستان سره مرکه کړې ده،  د ۱۳۹۰ کال د زمری ۱۲ نیټه (۲۰۱۱، د اګست ۳).

[51] د قانون غوښتونکي سازمان سره د یوناما /او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د زمري ۱۲ نیټه  (د ۲۰۱۱ د اګست ۳).

اوس د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څانګي په شپږو ولایتونو کې (بلخ، کندز، ننګرهار، پکتیا، پروان او کاپیسا) د قانون د پرمختیا د نړیوالي موسسي (IDLO) له خوا جوړیږي.[52]

د اختصاصی څارنوالی څارنوالان قضیې د استیناف محکمی تر کچې پورې تحقیق او تعقیب کوي، او بیا قضیې د ستري محکمي د څارنوالی د عمومی جزا ریاست ته محول کیږی چې دی ریاست څارنوالان د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو سره د اختصاصی څارنوالی په پرتله لږه اشنایی لري.[53] یوناما/او ایچ سی ایچ آر په دې نظر ده چې لویه څارنوالي باید دا په پام کې ولري چې اختصاصی څارنوالی ته د دې مسؤولیت وسپاري چې هغه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټولې قضیې تعقیب کړي چې ستري محکمې ته رارسیږي.

اختصاصی څارنوالی ځینې نمونې چې په هغو کې عدلي تعقیب ترسره شوی دی له یوناما/او ایچ سی ایچ آر سره شریکې کړې.[54]

- د میر بچه کوټ د ولسوالی د پولیسو قوماندان د یوې ۲۱ کلنې ښځی د ځان وژنې قضیه اختصاصی څارنوالی ته راجع کړه. د هغې په ورانه او مخ باندې نښې د دې ادعا ثبوت دی چې ښځې د کورنې تاوتریخوالي له امله ځان وژلی دی. د لومړنیو څیړنو وروسته پولیسو د قرباني شوې ښځې لیور ګرفتار کړ. اختصاصی څارنوالی د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۲۱ مادې له مخې هغه تورن کړ او تر اتهام لاندې یې راوست. تورن مجرم د ابتدایه محکمې له خوا برائت واخیست، خو څارنوال د ۱۳۸۹ کال د مرغومي د میاشتې په ۱۴ (د ۲۰۱۱ د جنوری په ۴) نېټه بیا د استیناف غوښتنه ورکړ او د ۱۳۹۰ کال د غوي د میاشتي په ۱۸ نیټه (۲۰۱۱ د می په ۸) یې د استیناف محکمې دغه شخص ګناه کار وګڼلو او هغه یې د دریو کلونو په بند محکوم کړ.
- اختصاصی څارنوالی د ۱۳۸۹ کال د وری په ۲۰ نیټه (د ۲۰۱۰ د اپریل ۹) په کابل کې د یوې ۱۸ کلنې ښځې شکایت تر لاسه کړ چې په کې یې د میره څخه شکایت درلود چې ډیره بده یې وهلې او ټپي کړې وه او پر بدن یې زخمونه وو. مجرم په جرم اعتراف وکړ. د ۱۳۹۰ کال د غویي د میاشتې په ۲۵ نیټه (۲۰۱۱ د مي ۱۵) د تحقیق هغه ټیم چې په اختصاصی څارنوالی کې مؤظف وو د دغې قضیې دوسیه د کابل ابتدایه محکمې ته واستوله چې د محکمی له خوا د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۲۳ مادې له مخې میره په درې میاشتو بند محکوم شو.

## (۳) د محاکمو له خوا د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د قانون تطبیق

یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته څرګنده شوه چې ابتداییه څاروالی د ابتداییه محکمو په پرتله د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په زیاتره کچه پلي کړی دی. په داسې حال کې چې ۲۸ څارنوالیو قضیې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخی ثبتي کړې دي، د ولایت د مرکز ابتدایه محکمې او یا هم ښاري محکمې یوازې په ۱۴ ولایتونو کې د دی قانون څخه په استفادې سره قضیې څیړلي دي چې د ۱۳۸۹ په کال کی (د ۲۰۱۰ د مارچ د ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۰ پورې) د ټولټال ۱۵۵ قضیو له جملی څخه ۱۰۱ قضیې کیږي.[55]

ځینی د قربانیانو له خارج شوی او ځینی نور یی په ابتداییه محکمو کی تعلیق شوی وو. په ځینو حالاتو کې د ابتداییه محکمو قاضیانو د محاکمی په بهیر کی د څارنوالانو اتهامنامې تعدیل کړی، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د

---

[52] د ۱۳۹۰ کال د وږي ۲۸ نیټه (د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۱۹ ) د قانون د پرمختیا د سازمان (IDLO) له خوا نشر شوي خبر دا اعلاموي چې یو تفاهم لیک د لویې څارنوالی سره لاسلیک شوی دی څو د روزنې او د ښځو سره د ځانګړې تاوتریخوالي د شپږو څانګو "کمیسیونونو " د لاربښوونې لپاره مرسته وکړي، چې دغه کمیسیونونه په راتلونکی مالی کال کی د واحدونو په بڼه د لویې څارنوالی په تشکیل کې شاملیږي. د دغه پروګرام ملاتړ د امریکی د متحده ایالاتو د خارجی وزارت د نړیوالو مخدره توکو او د قانون د انفاذ د دیپارتمنت له خوا ترسره کیږي.

[53] د۱۳۹۰ کال په غبرګولي (د ۲۰۱۱ په می ) کې یوناما/او ایچ سی ایچ آر له دوو قضیو څخه نظارت وکړ چې ستري محکمې د استیناف د محکمې هغه مجازات چې د زنا او ډله ییز جنسي تیري په اړه وو تایید کړل. په دغه لوړه کچه د قضیو د څیړلو په برخه کې توجه را اړول چې د ځانګړو څانګو له خوا کیږي کولای شي د دې سره مرسته وکړي چې په عمومي توګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی قضیې وڅیړلې شي او په کې ښه والی راشي.

[54] د ښځو وړاندی د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالی سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د۱۳۹۰ کال د غوي میاشت (د ۲۰۱۱ مې).

[55] دغه ولایتونه عبارت دی له: بلخ، بامیان، فراه، فاریاب، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کنړ، لوګر، ننګرهار، پکتیا، پنجشیر او تخار.

قانون له مخې وړاندېز شوی جزا رد کړی او په عوض کې د جزا قانون او نورو قوانینو څخه په استفادی سره جرم تعریف کړی دی[56]. په لاندی دوو قضیو کی، د دی پیښی قربانیانی هم په "اخلاقی جرمونو" تورنی شوی دی.

- د مثال په ډول په بامیانو کې څارنوال درې مدعی علیه چې ډله ییز جنسي تیری یې کړی و د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۱۷ مادې له مخې متهم کړی وو. د ښارې محکمې قاضي دغه اتهامات د زنا په اتهاماتو کې راوړی او قرباني ښځه یې هم د تورنو په لست کې راوستله. د استیناف محکمې او په پای کې ستري محکمې د څلورو واړو لپاره د مجازاتو او محکومیت تایید وکړ چې په دې توګه یې ۱۶ کلنه نجلی د یوه کال په بند د تنکیو ځوانانو په مرکز کې د ساتنې لپاره محکومه کړه او درې تیری کوونکی نارینه یې د درې درې کلونو په بند محکوم کړل.[57]

- په دې ډول د څارنوالۍ د دفتر د ځینو هڅو سره سره د دایکندي ولایت محاکم باید چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون پلی کړي. په یوې قضیې کې یوه ۶۰ کلن ملا چې دوه نجوني یوه ۱۴ کلنه او بله ۱۵ کلنه تر جنسي تیری لاندې راوستلې چې پلار یې یو جومات ته د لوست لپاره استولې چې د ملا څخه زده کړه وکړي. کله چې د دغې قضیې په اړه د ۱۳۸۸ کال د کب په ۱۰ نیټه (۲۰۱۰ کال د مارچ په لومړۍ نیټه ) راپور ورکړل شو نو دغه قرباني شوې نجوني هر یوې یې د ۷ او ۸ میاشتو حمل درلود. نجونو وویل چې ملا هغوي ته مخدره مواد ورکړل او بیا یې پرې په چال او فریب سره تیری ترسره کړ. وروسته دغه تورونه یو څه مغشوش شول، د هغو څخه یوې نجلۍ وویل چې هغې په پټه سره د ملا سره واده کړی دی... ملا هم د دې سره موافقت درلود خو ثبوت یې وړاندې نه کړای شو. چارواکو ملا ګرفتار کړ او هغه باندې یې اتهام وارد کړ خو دغه تور د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۱۷ مادې له مخې د جنسي تیری په نوم نه بلکې د زنا او د مقدس ځای د حرمت او قدسیت د پایمالولو د تورونو لاندې و. څارنوالی همدارنګه د دواړو نجونو د ګرفتارۍ حکم د زنا د اتهام د لاندې صادر کړ او دواړه یې په نیلې کې ښځینه زندان ته واستولې. دواړو نجونو د توقیف په جریان کی ولادت وکړ. ښار ي محکمې ملا د جنسي تیري په تور د جزا د قانون د احکامو له مخې پر ۱۲ کلونو بند باندې محکوم کړ او نجوني یې د زناء په تور د شپږو او ۴ کلونو په بند محکومې کړي. د استیناف څارنوال په دغه حکم اعتراض وکړ او و یې غوښتل چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ۳ او ۱۷ مادې باید تطبیق شي خو د استیناف محکمې دغه اعتراض مسترد کړ. دغې محکمې ملا یوازې د زنا په جرم محکوم کړ او د هغه مجازات یې د ۱۲ کلونو زندان څخه ۸ کلونو ته راټیټ کړل، او هغې نجلۍ ته چې ګواکې د ملا سره یې واده کړ ی و د هغې مودې لپاره چې په زندان کې یې تیره کړې وه محکومه او د بلې نجلۍ د بند موده یې تر څلورو کلونو پورې راټیټه کړه چې دغه موده به په کور کې د محدودیت په توګه تیروي. د ۱۳۸۹ کال د مرغومی په ۲۸ (د ۲۰۱۱ کال جنوری په ۱۸ ) ستري محکمې د استیناف د محکمې حکم تایید کړ. که چیرې ملا د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې د وارد شوو تورونو پر بنسټ مجازات شوی وای نو نجوني به نه خو نیول شوې او نه هم توقیف شوې وای. دواړه د کښته عمر د واده لاندې راغلې، یوه یې یو داسې شخص ته چې ځواکمن او دا چې پر هغې یې جنسي تیری کړی و واده شوه.[58]

په ځینو ولایتونو کې یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته څرګنده شوې چې قاضیان دغه قانون په سمه توګه پلی کوي.

- د ۱۳۸۹ کال د تلی په میاشت (د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر) کی د تخار د ښاری محکمې یوه ښځه په دې تور چې د خپل میره دوهمه میرمن ځان وژنې ته د فزیکي او ذهني فشار له امله اړ باسلې وه په مجازاتو محکومه کړه. دغې محکمې نوموړې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۲۷ مادې له مخې د

---

[56] د جزایی اجرااتو موقت قانون د ۵۷ مادی له مخی څارنوال یوه قضیه د قوانینو د اړوندې مادې سره سم چې د اتهام له مخې ورڅخه سرغړونه شوې ده په دوسیه کې راولي او د یادې شوې مادې د حکم سره سم د سزا او مجازاتو غوښتنه کوي. محکمه کولای شي چې ورسره موافقه و نه کړي او یوه بله ماده او حتی یو بل قانون د ثبوتونو، مدارکو او د اړخونو ددلایلو په بنسټ تطبیق کړي.
[57] د یوناما/او ایچ سی ایچ آر له خوا د قضیې څارنه، تله ۱۳۸۹- غوي ۱۳۹۰ (اکتوبر ۲۰۱۰ - می ۲۰۱۱).
[58] د یوناما/او ایچ سی ایچ آر له خوا د قضیې څارنه، کب ۱۳۸۸ - مرغومی ۱۳۸۹ ( مارچ ۲۰۱۰- جنوری ۲۰۱۱ ).

۱۳۹۰ کال د وری په ۲۱ نیټه په ۱۰ کلونو بند محکومه کړه. د استیناف محکمي چي ۲۱ ماده يي تطبيقوله، د دقيقو او نازکو حالاتو په موندلو سره دغه مجازات تر پنځو کلونو او شپږو میاشتو پوري راټيټ کړل.[59]

- د ۱۳۹۰ کال د وری په ۹ (د ۲۰۱۱ کال د مارچ د په ۲۹) نیټه د جوزجان په ولایت کي، د ولسوالی د کچي محکمي د افغان ملي پوځ یو پخواني سرتيري بدلمنی ته د خپلي ښځي د اړ کولو په خاطر مجرم وشميره (۱۸ ماده). ټپي او ناتوانه پخواني سرتيري د کرايي په بدل کي د هغوي د کور د خاوند سره د جنسي رابطي د نیولو لپاره خپلي ښځي ته ویلي وو. د نوموړي ښځي د دي خبري څخه انکار کړی او قضيه يي درج کړي ده. د ښځي میره په خپله کړنه اعتراف کړی او د محکمي له خوا په دریو کلونو بند محکوم شوي؛ د استیناف محکمي د مجازاتو حکم ۷ کلونو ته لوړ کړی.[60]
- د پکتیا ولایت ښاري محکمه د ۲۱ مادي لاندي د یوه شخص د محکومیت په شمول چي ښځه يي د ځان سوځوني له امله مړه شوي، په دوو قضيو کي دغه قانون په کار اچولی دی. د ۱۳۸۹ د وری په ۸ (د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۸) نیټه نوموړی له هغه وروسته چي د خپل میره له خوا يي د هغي د ورور په واده کي د برخي اخيستنی اجازه نه وه موندلي خپل ځان ته اور واچاوه. د ښځي میره نوموړي کابل ته روغتون ته د درملني لپاره لیږدولي او وروسته هلته وفات شوی. ولايتي محکمي د مجازاتو حکم تایید کړی او نوموړی شخص ته يي د ۷ کلونو د بند سزا ورکړې.[61]

## ستره محکمه

که څه هم چي ستري محکمي د قانون په اړه د قاضیانو لپاره په روزنو کي برخه اخيستي او د دې پروسي حمايت کړی، خو محاکمو ته د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په اړه ځانګړی لارښودونه نه دي صادر کړي. د یوناما/او ایچ سی ایچ آر سره په یوه ناسته کي، د ستري محکمي قاضی القضات منلي چي په افغانستان کي د ښځو په وړاندي تاوتریخوالي پراخ دی او دا يي هم ویلي چي د ښځي پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون ښه څرګند یا د فهم وړ نه دی.[62]

د ۱۳۸۹ کال د وږی (د ۲۰۱۰ کال د اګست) په میاشت کی د ستری محکمی عالی شورا د کور څخه د تښتیدو د قضیو د رسیده ګی په اړه "۵۷۲ نمبر مصوبه"[63] صادره کړه د دی لارښوونی په اساس محکمی باید د دی ارزونه وکړی چی تیښته کوونکی ښځه مجرده ده که متاهله، د تیښتی وجه څه ده او چیرته تښتیدلی ده (د خپلوانو کور ته که د پردی کور ته). د دی لارښود له مخی که چیری یوه ښځه د کورنی د غږو د ظلم او تاوتریخوالی څخه د خلاصون په خاطر له کور څخه تیښته وکړی او د خپلی شرعی محرم خپلوانو کور ته پناه یوسی او یا عدلی مراجعو ته لاړی شی، په دغه صورت کی دغه پیښی ته د شرعیت قانون له مخی نه لیدل کیږی. مګر که چیری ښځه پردی کور ته تښتیدلی وی، که څه هم چی د تیښتی وجه ظلم او ناروا څخه خلاصون هم وی، د عالی شورا په اساس دغه عمل د شریعت قانون له مخی منع شوی او د مجازاتو وړ ګڼل کیږی ځکه چی کیدای شی د ښځی تیښته د زنا او یا نورو جرمونو لامل شی.

په ظاهر کی دغه لارښوونه د تیښته کوونکی نجونو د نیونی په وړاندی یو مثبت ګام بلل کیږی، خو یوناما/او ایچ سی ایچ آر دا وړاندیز کوی چی محکمی د اساسی قانون د ۱۳۰ مادی پر بنسټ (چی محاکمو ته د دی اجاره راکوی چی که چیری د افغانستان په قوانینو کی د یوه قضیی په هلکه کوم صریح حکم موجود نه وی نو په دغه صورت کی د

---

[59] د تخار ولایت د جزا دیوان د ځارنوالی رئیس له خوا یوناما ته ته ځوابی لیکنه، د ۱۳۹۰ غویی.
[60] د جوزجان ولایت د استیناف محکمی د جزا دیوان د مشر له خواد یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته ځوابی لیکنه، کب ۱۳۸۹ (مارچ ۲۰۱۱).
[61] د ګردیز د ښاري محکمي د قاضي سره د یوناما /باو ایچ سی ایچ آر مرکه، ۴ غویی ۱۳۹۰ ، ۲۰۱۱ ، د اپریل ۲۴.
[62] د ستری محکمی له قاضی سره د ۱۳۹۰ کال ۱۵ وری (د ۲۰۱۱، د اپریل ۴).
[63] ۵۷۲ نمبر مصوبه، د IDLO د هغه لیکنی په ځواب کی چی "د کور څخه د تیښتی" د جرم د عدلی تعقیب او حقوقی اساس په باب د زیاتو څرګندنو غوښتنه شوی و.د ستری محکمی عالی شورا یو لارښود صادر کړ چی د یوناما د بشری حقونو د څانګی سره شریکه شوه. دغه لارښود د اصلاح په ورځپانه کی هم د ۲۰۱۰ د اګست په ۲۵ نشر شو.

حنفی فقی احکام تطبیق شی) هغه دودویزی کړنی ته چی د ښځو پر ازاد ګرځېدو راګرځېدو باندی محدویت وضع کوی او د شریعت په قانون کی اساس نلری، مشروعیت ورکوی.

د ۱۳۹۰ د وږی په ١٤ (د ۲۰۱۱ د سپتمبر په ۵) د ستری محکمی په یوه لیکنه کی چی د یوناما/او ایچ سی ایچ آر بشری حقونو څانګی ته واستول شو او په هغه کی د ښځو او نجونو د تیښتی په باب د ستری محکمی د لارښود په هلکه د یوناما/او ایچ سی ایچ آر نظریات او برداشتونه تر سوال لاندی ونیول شول چی د یوناما/او ایچ سی آر د ۲۰۱۰ کال په راپور "په افغانستان کی ناوړه دودونه او د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق" کی لیکل شوی وو. په دی لیکنه کی ستره محکمه داسی استدلال کړی چی "د احتمالی زیان څخه د مخنیوی لپاره مجازات شرعی او حقوقی اساس لری .... خو د نامحرمو کسانو د یو ځای کیدو او اخلاقی فساد څخه مخنیوی او د بی عفتی زیان په دغه قضیه کی په لومړیتوب کی راځی. د جنسیت د برابری یا عدم تبعیض موضوع یو بشپړ او قطعی موضوع نه ده او د هر هیواد په حقوقی سیستمونو کی د پام وړ او عام استثناګانی لری..... د مثال په ډول، د ځمکی لاندی په کارونو یا سختو کارونو او یا هم د شپی له خوا په کارونو کی د ښځو نه ګمارل د نری په کچه منل شوی دی. دا د هغو موضوع ګانو او استثنااتو له جملی څخه شمیرل کیږی چی د قانون په وړاندی د ښځو او نارینه وو تر منځ مساوات، نه اغیزمنه کوی." ستره محکمه د اساسی قانون پر ۳ مادی باندی تاکید ورکړ چی وایی: "په افغانستان کی هیڅ قانون نه شی کولای د معتقداتو او د اسلام د سپیڅلی دین احکامو پر ضد واقع شی."[64]

په داسی حال کی چی یوناما د ستری محکمی له دغو څرګندونو څخه هر کلی کوی، د دی موضوع په اړه د لازیاتو پاملرنو، بحثونو او مطالعو وړاندیز کوی تر څو د ښځو د حقونو پوره ساتنه وشی.

د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په اړه د ستری محکمي له خوا د پام وړ عمل د ۱۳۹۰ کال د چنګاښ (۲۰۱۱ جولای) د میاشتي هغه پریکړه حسابیدای شي د کومي پر مټ چي ستري محکمي د دغه قانون ۴۲ ماده لغوه کړه ، دا د دي قانون لاندي د محکومو کسانو د سزا د موديِ کمیدل او بخښنه ممنوع کوي. ستري محکمي نوموړي ماده د ولسمشر د اساسي قانون د بخښني د ځانګړی امتیاز سره په ټکر کي وموندله ، او یادوي... د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۴۲ مادي په هکله د یوې پوښتني په اړه چي د عفوې او سزا د موديِ د کمولو په هکله ده د ولسمشر د فرمانونو د پلي کولو لپاره ستونزې پیدا کوي، د ستري محکمي عالي شورا دا واضح کوی چي د زندانیانو د عفوي او د هغوي د سزا د موديِ د کمولو دنده د ولسمشر د قانوني صلاحیتونو څخه یوه دنده ده او نوموړی کولای شي دا صلاحیت هر ډول وکاروي. په همدې دلیل، د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون دغه ماده د افغانستان د اساسي قانون سره په مغایرت کي ده. لکه څنګه چي یو قانون نه شي کو لای د اساسي قانون څخه تخطي وکړي، هغه ملغا او د پلي کیدو وړ نه دي.[65]

## (۴) د افغان ملي پولیسو له خوا د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پلي کول

پولیس باید د تاوتریخوالي د قربانیانو د خوندیتوب څخه ډاډ حاصل کړي او همدارنګه د هغوي د حقونو او موجوده خدمتونو په اړه هغوي ته معلومات برابر کړي. د هیواد د لومړني ارګان په حیث چي د زیاترو ښځینه قربانیانو سره ګوري، پولیسان د قربانیانو بیانونه ثبتوي او د جرم د حالاتو په هکله مهم ابتدایي راپورونه لیکي. دا چي هغوي څنګه د حساسیت او خواخوږۍ یا بي خبرۍ او تبعیض له مخي غبرګون ښیي، د دوسیي د پایلي لپاره د مسیر د ټاکلو سره مرسته کوي.

---

[64] د ۱۳۹۰ د وږي ۱۴ (۲۰۱۱ د سپتمبر په ۵) یوناما/او ایچ سی ایچ آر د ستريِ محکمي له خوا یو مکتوب ترلاسه کړ چي په هغه کی د یوناما/او ایچ سی ایچ آر راپور "په افغانستان کي ناوړه دودونه او د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق" ستایلي شوی و: "د دي په پام کي نیولو سره چي دودیزي کړني په افغانستان کي یو پخواني میراث دی چي افغانان ورڅخه ځوریږي او نه شي کولای چي په لنډه موده کي له دي رنځ څخه خلاصي شي، د یوناما د بشري حقونو راپور د دواړو جنسونو د ذهنیت په روښانه کولو کي مهمه ونډه درلودلای شي او کولای شي چي په راتلونکي کي د مثبتو بدلونونو لپاره لار پرانیزي." په همدي مکتوب کي په دی راپور کی د کور څخه د تیښتی موضوع او د ستری محکمی (د ۲۰۱۰ اګست) په لارښود کی د تیښتی د قضیو په هلکه د یوناما/او ایچ سی ایچ آر نظر تر سوال لاندی نیول شوی چی دغه لارښود د نورو مسئلو په ضمن کی د تیښی په اړه داسی وایی: که چیری یوه ښځه د خپلو خپلوانو، محارمو او یا هم د عدلی مراجعو څخه پرته په یو پردی کور کی تیښته وکړی (حتی که د تیښتی وجه ظلم او ناروا څخه خلاصون هم وی) دغه عمل منع او د مجازاتو وړ ګڼل کیږی ځکه چی کیدای شی د ښځی تیښته د جرمونو (لکه زنا یا فحشا) لامل شی.

[65] د ستريِ محکمي پریکړه په دری ژبه په دی پته کتلای شي:
http://supremecourt.gov.af/fa/news/2538

د څارنواليو او محاکمو د اندازې د معلومولو څخه زيات د افغان ملي پوليسو له خوا د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د پلی کولو د اندازې د معلومولو کار ډير ستونزمن دی. د پوليسو له خوا د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د قضيو ثبت او راجستر ثابت نه دي او زياتره يې په واضح ډول د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د تعريف شويو جرمونو سره مطابقت نه لري، او د بيلګې په توګه، قضيې "د کورنی خشونت" يا "د کورنيو شخړو" تر نوم لاندې ثبت کيږی او يا هم ډيری قضيې نه ثبت کيږی.

څنګه چې په دی راپور کی مخکی اشاره شوه، د ۱۳۸۹ په کال کی (د ۲۰۱۰ د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۱ د مارچ تر ۲۰ پورې) د پوليسو سره د راجستر شويو قضيو په اړه يوناما/او ايچ سی ايچ آر د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي ټول ټال ۱۲۱۱ شکايتونه ثبت کړې دي.[66]

## د تاوتريخوالی په ضد د کوری غبرګون څانګی

يوناما/او ايچ سی ايچ آر ومونډله چې پوليسو په ولايتونو کې چيرې چې د تاوترخوالی په ضد د کورنی غبرګون څانګې ځاي پر ځای شوی او غري يې هم په بشپړه توګه ښځينه کارکوونکي دي زيات شکايتونه تر لاسه کوی او په زيات احتمال په خپل سر عمل کوي. د تاوتريخوالی په ضد د کورنی غبرګون د څانګو جوړيدل، تر زياتی اندازی خو که څه هم چې په بشپړه توګه ښځينه پوليساني پکې شاملي نه دي، دا ښايي د پوليسانو له خوا د تاوتريخوالي له امله د ښځنيه قربانيانو د بررسي کولو په چارو کې د ښه والی په برخه کې د هغوي سره مرسته وکړي. د تاوتريخوالی په ضد د کورني غبرګون څانګه د تحقيق کوونکو نږدی ۳۵۵خواک لري چې د هيواد په کچه په نږدې ۱۴۸ دفترونو کې فعاليت ترسره کوي. په ولايتونو کې د کورني غبرګون د څانګو زياتره کارکوونکي نالوستي دي او په عمومي توګه يې کومې ځانګړې روزنې نه دي تر لاسه کړې.[67]

د تاوتريخوالی په ضد د کورني غبرګون څانګه د جنايي تحقيقاتو د رياست يوه برخه ده چې کارکوونکي يې کولای شي د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي په قضيو کې په نظري څيړنو کې د څيړنو د بهير سره مرسته وکړي. سره له دې، يوازې يو څو قوماندانانو د دې ستاينه وکړه.[68] د کورني غبرګون واحدونه اصلاً د داخلي شخړې د کمې کچې تاوتريخوالي اداره کوي او په نادره توګه دجنسی تيری، ځان سوځوني يا اجباري ودونو د قضيو په څيړنو کې ښکيل دي.[69] د پوليسو په زياترو حوزو کې، ښځې نه شي کولای د مؤظف نوکريوال د ليدو او هغه ته د خپلي مسئلې د تشريح کولو پرته د کورني غبرګون واحد ته لاس رسي پيدا کړي.

يوناما/او ايچ سی ايچ دا دمودلی چې د تاوتريخوالی په ضد د کورني غبرګون د څانګو يا ښځينه پوليس افسرانو د نشتون په صورت کې، ښځينه قربانياني تقريبا هيڅکله هم په خپله خوښه د پوليسو حوزو ته مراجعه نه کوي او د دی ويره لري چې هغوی به ونيولي شي او د هغوي حيثيت به لکه داره يا له بده بدتر شي. پوليس په دغو سيمو کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي قضيې د عنعنوي شخړو د حل لارو ميکانيزمونو يا د ښځو د چارو رياست ته راجع کوي. په ضمن کې، پوليس افسران د هغو ښځو نيولو او توقيف کولو ته دوام ورکوي څوک چې د کورنو څخه تښتيدلي او اکثرا د هغوي د تيښتې د لاملونو د څيړنو په برخه کې پاتې راځي.

د زياترو نورو ځايونو په پرتله، د ښځو د تاوتريخوالي شکايتونو ته د پوليسو له خوا ځواب ويلو په موخه په عمومي توګه په کابل کې ښه چانس موجود دي.[70] په ښار او کليوالو ولسواليو کې د پوليسو په حوزو کې د کورنی غبرګون څانګې او د بشري حقونو رابط مرکزونه موجود دي او زياتره ښځينه قربانياني په مستقيمه توګه د هغوي سره اړيکی نيسي، که څه هم د يوه قربانی ښځی خپلوان او ګاونډيان په نادره توګه د ده د بد چلند په اړه راپور ثبتوي. د ولسوالی د

[66] په دغه شميره کې د ټول ټال ۲۶ ولايتونو څخه ارقام/ډاټا شامله ده، له هرات څخه ۲۹۳، له کندز څخه ۲۳۷، له کابل څخه ۲۳۴، له پکتيکا او غزني څخه صفر. يوناما/او ايچ سی ايچ آر په دی ونتوانيد چې د پوليسو څخه د ۸ ولايتونو په هلکه ملومات ترلاسه کړی.
[67] د افغان ملي پوليسو د کورني غبرګون د څانګې د مشر سمونمل ذکيه عصمت الله سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د ۲۰۱۱ کال د جولای ۲۵.
[68] د ډاينکورپ د کورني غبرګون د څانګې د همغږي کوونکې او نړيوالو پوليسو د سلاکارې آغلې اليزبيت کامرون سره د يوناما مرکه، د ۱۳۹۰ د چنګاښ ۴ (۲۰۱۱، ۲۵ جون).
[69] د افغان ملي پوليسو ،ډاينکورپ نړيوالو پوليسو، امريکا سفارت، يو اين ايف پی ای، يو اين ومين او يوناما سره په کابل کې د سازمانونو د ۱۳۹۰ د چنګاښ د ۳۰ (د ۲۰۱۱ د جولای ۲۱) نېټې په ناسته کې د ګډون کوونکو د نظريو موافقه.
[70] پوټنی ماخذ.

کچې پولیس موضوع څیړي، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون اړوند موضوع د کورنی غبرګو څانګی ته یا د ولایت د بشري حقونو رابطي څانګي ته سپاري یا په ځینو مواردو کي روغه جوړه کوي. د جرم د بڼي په تړاو، د بشری حقونو رابط افسر دوسیه وړاندې څیړي او دوسیه د څارنوال دفتر ته لیږي او یا د روغي جوړي له لارې هغي ته ځواب وایي. د ۲۰۱۰ کال په دوران کي د کابل د بشري حقونو رابطي څانګي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په تړاو ټول ټال ۲۳۴ قضیې ریکارډ کړي دي.[71]

په هرات کي هم چیرې چي پولیس د کورني غبرګون څانګي لرې د شکایتونو د تعقیب یو پیاوړي ریکارډ لرې، دغي څانګي د کال په اوږدو کي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ټول ټال ۲۹۳ شکایتونه درج کړي. د دغه مجموعي شمیر څخه، ټول ټال ۶۷ شکایتونه د کورني غبرګون د څانګي د دایمي واحد له خوا د هرات د ځان سوځوني د روغتون په هکله دي، چاروکي دغه قضیې په یو شمیر بیلا بیلو ولایتونو کي په بیلا بیله توګه بررسي کوي. د نورو ۲۲۶ پاتي دوسیو په هکله باید وویل شي چي د کورني غبرګون د څانګو له خوا ټول ټال ۷۳ قضیې په مستقیمه توګه څارنوال ته، ۳۱ قضیې د جرمونو د تحقیق ریاست ته، ۱۹ قضیې د ولسوالیو بیلابیلو چارواکو ته، ۱۳ قضیې کورنیو محاکمو ته او یوه قضیه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته سپارل شوې او په پاتي نورو ۵۴ قضیو کي یې منځګړیتوب کړی دی. ټول ټال ۳۵ قضیې بیرته اخیستل شوي.[72]

د سمنګانو د شمالي ولایت په کلیوالیو سیمو کي، د پولیسو د کورني غبرګون څانګي هم په دوامداره توګه شکایتونو ته رسیدګي کړی . په ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال کي د ټول ټال ۱۷ ثبت شویو شکایتونو له جملي څخه ټول ټال ۱۰ قضیې (چې پکي وهل، فحاشی ته اړ ایستل، کورنی تاوتریخوالی او زنا شاملې دي) د کورني غبرګون د څانګي له خوا څارنوال ته راجع شوي او پاتي ۷ قضیې لکه کورنی شخړی، لفظي برید، د ښوونځي نجونو مزاحمت کول) د منځګړیتوب او سلا مشورو له لارې حل شوي دي.[73]

په شمال ختیځ تخار ولایت کي پولیسو ټولټال ۸۵ قضیې ثبت کړې خو یوازې یو څو یې د عدلي تعقیب په موخه څارنوال ته استولي. د دغو قضیو له جملي څخه یوه هم د بدو په بدل کي د واده قضیه ده- چیرې چي یوه نجلۍ بلې کورنۍ ته د جرم په بدل کي د اوښتي زیان د جبران ورکولو په موخه ورکړل شوې. د ورسج په ولسوالی کي، پولیسو په ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کي د بدو په بدل کي د واده په تړاو یو شمیر کسان توقیف کړی دي . یوه شخص په یوې ۱۶ کلنۍ نجلۍ جنسي تیری کړی، کله چي نجلۍ امیندواره شوې، د نجلۍ کورنۍ د هغي واده د هغه شخص سره چي په نوموړې یې تیری ترسره کړی برابر کړ. په عین حال کي، هغوي غوښتنه کوله چي د جنسي تیري د ترسره کوونکي شخص کورنۍ دې هغه بل اړخ ته یوه نجلۍ په بدو کي ورکړي، هغوي وروسته د جنسي تیري د ترسره کوونکي شخص یوه ۹ کلنه نجلۍ په بدو کي تر لاسه کړه. د څارنوال له خوا د نیوني په یو صادر شوي ضمانت کي، پولیسو د بدو په بدل کي د واده د مراسمو د برابرولو په تور پلار او تره نیولي، او هغوي یې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۲۵ مادې مطابق متهم ګڼلي. د څارنوال دفتر د ملا امام، دوو شاهدانو او دوو منځګړو کسانو چا چي د بدو په بدل کي د واده په مراسمو کي ګډون کړی وه د نیولو حکم هم صادر کړی.[74]

### د ښځو د تاوتریخوالی د قضیو په ثبتولو او څیړنو کي پاتي راتلل

د هغو ولایتونو بیلګي چیرې چي د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په پراخه کچه له پامه غورځول شوی، په دې کي د کندهار ولایت شامل دی چیرې چي پولیسو د قرباني شخص او شاهد بیانونه ثبت کړي، خو په نادره توګه یې په دې اړه د کوم تعقیب کوښښ کړی.

د ۱۳۸۰ د کب په ۲۲ (د ۲۰۱۱ د مارچ په ۱۳) نیټه یوه ښځه د خپلی لور د جبری ځان وژنی ته د اړ باسلو راپور پولیسو د کورني غبرګون څانګي ته ورکړ. د نجلۍ کورنۍ خپله لور د ۲۵ کلنۍ په عمر د ۳۰۰۰۰۰

---

[71] د کابل ولایت د پولیسو د بشري حقونو د رابط شخص سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ د چنګاښ ۲ (۲۰۱۱، جون ۲۳).

[72] د هرات ولایت د کورني غبرګون له څانګې سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د غبرګولی ۱۹ (۹ جون، ۲۰۱۱).

[73] د سمنګان ولایت د کورني غبرګون له څانګې سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه ، د ۱۳۹۰ کال غبرګولی د ۱۳۹۰ د چنګاښ ۲۲ (د ۲۰۱۱ د جولای ۱۳).

[74] د تخار ولایت د څارنوال مرستیال له خوا یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته ځوابی لیکنه، د ۱۳۹۰ کال غبرګولی (د ۲۰۱۱ جون).

افغانیو (۶۶۰۰ امریکايي ډالرو معادل) په بدل کې ورکړي. د نجلۍ مور وايي چې د نجلۍ خسرګنۍ په دوامداره توګه نوموړې نجلۍ سرزنش کړې.[75] "ستا مور او پلار زموږ څخه ډيرې پيسې اخيستي دي، ته اوس مجبوره يې چې دغه پيسې موږ ته بيرته د خلکو په کورونو کې د کار کولو له لارې راکړې." په پای کې، د ۱۳۸۹ د غبرګولي په مياشت کې (۲۰۱۱ فبرورۍ) د ۱۰ کلن واده نه وروسته، د نجلۍ کورنۍ نوموړې نجلۍ ته وويل چې هغه بايد د دريو نارينه وو سره څوک چې د کورنۍ څخه ليدنه کوي جنسي اړيکه ونيسي. يوه مياشت وروسته، نوموړې ښځې په خپله خونه کې خپل ځان ته اور واچاوه. نوموړې به تل ويل چې يوه ورځ به خپل ځان ته اور واچوي. د نجلۍ مور وويل: "ما به هغې ته ويل چې له ځانه زغم ښکاره کړه، دا ژوند دی او يوه ورځ به ښه روښانه راتلونکي ولرې". پوليسو د ښځې د مور شکايت درج کړ خو د ځيرنې په موخه يې هيڅ اقدام نه دی ترسره کړی. د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون لاربښوونه کوي چې اجباري ځان سوځونه د يو شمير جرمونو له جملې څخه شميرل کيږي چې د شکايت کوونکي د نه شتون سربيره هم بايد د پوليسو او څارنوالانو له خوا تعقيب شي.[76]

د هيواد په جنوب ختيځ کې، د غزني او پکتيکا په ولايتونو کې، چيرې چې يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکې تر سره کړې، پوليسو د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون په اړه معلومات نه درلود.[77] د پکتيکا ولايت پوليسو وويل چې دوي د دی راپور په موده کې يوه قضيه هم نه ده ثبت او څيړلې. د افغان ملي پوليسو د بشري حقونو رابط شخص وويل: *"د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي قضيې د دولت ضد عناصرو د ويرې يا کلتوري تهديدونو له امله نه ثبت کيږي".*[78]

يوناما/او ايچ سی ايچ آر د افغانستان په جنوبی او جنوب ختيځو سيمو کی د مايوسو نجونو او ښځو د ځان سوځونی يو زيات شمير قضيی هم ثبت کړی دی. د دغو قضيو اکثريت يی د پوليسو له خوا نه دی تحقيق شوی په داسی حال کی چی د ښځی پر عليه د تاوترخوالی د منع قانون د ۲۱ مادی له مخی ځان سوځونی ته مجبورل جرم پيژندل شوی.[79]

د لوګر، پنجشير، پروان او وردګو په ولايتونو کې د پوليسو د بشري حقونو رابط شخص د يوناما/او ايچ سی ايچ آر د بشري حقونو څانګې ته ويلي چې د هغوي په ولايتونو کې ښځې هيڅکله هم کوم شکايت نه دی ثبت کړی. د ښځو د چارو د رياست او د ولايتي شورا د ښځينه غړو له خوا يو کم شمير قضيې تر لاسه کيږي. د پروان ولايت پوليسو وويل چې د تحقيقاتوڅخه وروسته زياتره مسئلې د ښځو د چارو د رياست په همکاری د منځګړيتوب له لارې حل شوي، ۶ پاتې قضيې د څارنوال دفتر ته راجع شوې دي.[80]

## د ښځينه پوليس افسرانو کم شمير

د ښځينه پوليس افسرانو کم شمير، ښځينه قربانياني ناهيلي کوي څو د مرستې د تر لاسه کولو په موخه پوليسو ته مراجعه وکړي. که څه هم چې د ملي پوليسو په تشکيل کی ټول ټال ۲۷۰۰ موقفونه ښځو ته ځانګړی شوی، خو

---

[75] د پوليسو د بيا شميرنې پر اساس، د کندهار د پوليسو د جنايي تحقيقاتو د څانګې سره د يوناما /او ايچ سی ايچ آر مرکه، ۱۳۸۹ د کب ۲۰ (مارچ ۱۷، ۲۰۱۱).

[76] د ۳۹ (۱) مادې سره سم د جنسي تيری، فحاشی ته اړايستل ، د يو قرباني شخص د هويت د نشرولو، د کيمياوي عنصرونو د سوځولو او کارولو، اجباري ځان سوځونې او ځان وژنې جرمونه شکايت کولو ته ضرورت نه لري.

[77] د ۲۰۱۱ کال له نيمايي څخه، د افغان ملي پوليسو اساسي روزنو د بشري حقونو، جندر يا د ښځو په وړاندې د خشوت په اړه يو څو ساعتونه ثبت کړې دي. خو په نوی نصاب کې به د بشري حقونو په اړه ۹۶ ساعته او د ښځو په وړاندې د خشونت سره د معامله کولو په موخه ۱۸ ساعته شامل شي. د UNFPA له خوا يو روزنير لاسي کتاب چې عنوان يې "په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د خشونت په هکله پوليس عمل کوي" د کورنيو چارو د وزارت له خوا د کارولو په موخه تصويب شوی.

[78] د پکتيکا ولايت د افغان ملي پوليسو د بشري حقونو د رابط شخص سره ديوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه،۱۳۹۰ د وری ۲۴ (۲۰۱۱، اپريل ۱۳).

[79] د ۲۰۱۱ کال د می څخه تر سپتمبر پوری يوناما/او ايچ سی ايچ آرپه جنوب ختيځ زون کی د ښځی د ځان سوځونی ۶ پيښی او د ځان وژنی ۳ پيښی ثبتی کړی دی. د ۲۰۱۱ کال د می په ۴، د قانون او عدالت سکتور په يوه ګروبی غونډه کی د جنوبی زون په نيمروز ولايت کی د ځان سوځونی د پيښو د زياتوالی خبره پورته شوه او د دی غونډی ګډون کوونکی د اړوندو چارواکو له خوا د دغسی قضيو د تحقيقاتو او عدلی تعقيب کولو د مسؤليتونو او د ښځو د ځان سوځونی څخه د مخنيوی په اړه بحث وکړل.

[80] د پروان ولايت د بشري حقونو د رابط شخص سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر تلفوني مرکه، د ۱۳۹۰ د غبرګولی ۲۵ (۲۰۱۱، د جون ۱۵).

دمګړی د ۱۹۵ افسرانو او ۴۴۴ ساتنملانو په شمول یوازی ۱۱۹۵ ښځینه غړي په ځواک کې شاملې دي. دا د ۱۳۹۰ کال لپاره د ټول ځواک د ۱۵۱۲۸۱ غړو ۰،۷۸ سلنه جوړوي.[81]

د کورنیو چارو د وزارت ستراتیژي د ۱۳۹۲ کال (۲۰۱۴) تر پایه د ټول ټال ۵۰۰۰ ښځینه پولیس کارکوونکو غوښتنه کوي، خو دغي موخې ته د رسیدو په لار کی ډیری ستونزی موجودی دی. د افغان ملي پولیسو د بشري حقونو او جنډر د څانګې د مشري مل پاسوال شفیقي په حواله، د ښځینه پولیسو د استخدام او ساتلو په وړاندې دغه ستونزی شامل دي: دودونه او رواجونه چی ښځی ته اجازه نه ورکوی پولیس ځواک سره یو ځای شی ، د لیک لوست نیته کچه، د طالبانو له خوا ښوونځیو ته د نجونو د تګ په اړه خنډونه، نا امني، د ماشوم د پاملرنې نشتون ، د دولت ضد عناصرو له خوا د غچ اخیستلو ویره او تهدید.[82]

بر سیره پر دی، یوه سیمییز پولیس قوماندانه، د دی په غندولو سره چی د پولیسو په لیکو کی پراخه جنسی ځورونه موجوده ده، وایي: "د کورنیو چارو د وزارت چارواکو د یو شمیر هغو قضیو په اړه چې دوي ته وړاندې شوي کوم اقدام نه دی ترسره کړي. نوموړي خبرداري ورکړی که چیرې دغې ستونزې ته د حل لار و نه موندله شي نو د شمالي سیمو ټول ټال ۲۱۰ ښځینه پولیس به له خپلو دندو لاس په سر شي.[83]

نړیوالو مشاورینو لیدلي چې یو زیات شمیر ښځینه پولیس خپلې مسلکي دندې نه ترسره کوي، او په ځای یی د اشپزی، صفاکاری، او چای پخولو دندې ترسره کوي. جنرال شفیقه رسولی، د افغان ملي پولیسو د روزنې او معارف د څانګې مشرې وایي چې د ښځینه پولیسو د استخدام په چارو کې اصلي ستونزه د قانون په تنفیذ کې د ښځو په وړاندې د عنعنوي کلتور ستونزه ده.[84]

## (۵) د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په قضیو کی د منځګړیتوب او د مسئلو د حل کولو د دودیزو میکانیزمونو کارول

### *موندنې*

د یوناما/او ایچ سی ایچ آر څیړنو دا په ډاګه کړې ده چې په ډیرو هغو قضیو کې چې په کې د ښځو پر وړاندې د تر سره شوو تاوتریخوالو په اړه پولیسو او د څارنوالی دفترونو ته راپورونه ورکړل شوي خو هغه د رسمي عدلي سیستم څخه د باندې د منځګړیتوب، د شکایت د بیرته اخیستلو او د مشرانو له خوا د دودیزو میکانیزمونو د لارې پروسس شوي او یا هم حل شوي دي. حتی دا چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی هم یوازې یو څو محدودې قضیې تر عدلي تعقیب لاندې نیولې چې هلته ثبتې وی.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر همدارنګه دا مستنده کړې ده چې په زیات شمیر کې د کورني تاوتریخوالي شکایتونه چې د ښځو چارو د ریاست او د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا ثبت شوي دي د منځګړیتوب د لارې حل شوي دي. په هغه صورت کی چی قربانی ښځه ونه غواړی چی قضیه د جنایی عدالت په سیستم کی تعقیب شی، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع په قانون کی د ۲۲ تعریف شویو جرمونو له جملې څخه په ۱۷ کی یی کولای چی منځګړیتوب وشی.[85]

---

[81] د داخلی وزارت د روزنی د رئیس جنرال شریفه رسولی سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر لیدنه، د ۲۰۱۱ د جولای ۲۵.
[82] د پولیسو د درک د سروې د کنفرانس پرمهال وینا، سرینا هوټل،د ۱۳۸۹ د سلواغې ۱۴ (۲۰۱۱، فبروري ۳). "د افغان ملي پولیسو د کورني غبرګون د څانګو او د ښځینه پولیسو د ډلو په راپور کې اقتباس شوی" د نړیوالو مخدره توکو او د قانون د پلي کولو د بورډ له خوا،د ۱۳۹۰ د غبرګولی ۱۵ (۲۰۱۱، جون ۶).
[83] د شمالي سیمو د پولیسو لپاره د بشری حقونو او جنډر د رابط شخص سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه،د ۱۳۹۰ د وږی ۲۲ (۱۳ سپتمبر، ۲۰۱۱).
[84] جنرال شفیقه رسولی، د کورنیو چارو د وزارت د روزنې مشره، د ۱۳۹۰ د زمری ۳ (۲۰۱۱، د جولای ۲۵).
[85] ۲۰ نمبر فوټ نوټ وګوری.

د مثال په ډول، د ننګرهار په امنيه قوماندانی کی د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون له مخي ۳۶ شکايتونه[86] درج شوی دی، چي په ۱۲ قضيو کی منځګړيتوب شوی، ۱۲ يي د شکايت کوونکو له خوا بيرته اخيستل شوي، دوه يي د عدلي تعقيب لپاره راجع شوي، يوه يي د جنايي تحقيقاتو رياست ته د لا زيات تفتيش لپاره استول شوي، يوه يي د عدليي وزارت ته د يوې مدني قضيي په توګه د څېړنو لپاره استول شوي[87]، دوه يي د ښځو چارو رياست ته، څلور يي نورو سيمه ييزو چارواکو او مسوولينو ته استول شوی او په دوو قضيو کي د تعقيبولو په اړه وضاحت وجود نه درلود. د جنسي تيري په دوو قضيو کي يوه يي د عدلي تعقيب په موخه او يوه يي د منځګړيتوب لپاره استول شوي دي، سره د دی چي د جنسی تجاوز د جرم لپاره منځګړيتوب د ښځي پر عليه د تاوتريخوالي د منع په قانون کی منع شوی دی. د ۱۷ قضيو څخه چي په کي د وهلو ټکولو پيښي وې اوه يي د منځګړيتوب لپاره استول شوي، پنځه بيرته اخيتسل شوي، دوه يي نورو ولسواليو ته، يوه يي د ښځو چارو رياست ته استول شوې او دوه يي پوره څرګندې نه وی.[88]

د کنړ په ولايت کي د افغانستان د ملي پوليسو د جنايي تحقيقاتو د مديرت له خوا نهه شکايتونه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه ثبت شوي دي چي هغه د ښځو د چارو رياست ته د منځګړيتوب لپاره استول شوي، پنځه يې قومی مشرانو ته او يوازې يوه يی د عدلي تعقيب لپاره استولی ده.[89]

په ټول افغانستان کي د ملي پوليسو د تاوتريخوالی په ضد د کورني غبرګون څانګه له هغو قضيو څخه چي دوی ته رسيږی زياتره يي د منځګړيتوب د لارې حل کوي. د ښځو پر عليه هغه تاوتريخوالی چي د کورنی چاپيريال څخه د باندې صورت نيسي د جنايي تحقيقاتو د رياست له خوا تر غور لاندې راځي او کله نا کله د کورنی د غبرګون د څانګي په مداخلي سره حل کيږي.

د هرات ولايت د کورني غبرګون څانګي د زياتو قضيو لپاره په غير معمولي توګه په هيڅ ډول په هغو قضيو کي چي ثبت شوي دي منځګړيتوب نه دی کړی. دغې څانګي په ۲۰۱۰ کې ۲۲۶ قضيې ثبت کړي دي چي له هغو څخه د ۱۰۳ په اړه يي منځګړيتوب کړی، ۷۳ د عدلي تعقيب لپاره راجع کړي، ۳۱ يي د ولايت د جنايي تحقيقاتو مديريت ته او ۱۹ يي په نورو ولسواليو کي چارواکو ته استولي دي. د خوست په ولايت کي د پوليسو د کورني غبرګون څانګي ته ۱۲ قضيي رسيدلي دي چي د ۱۰ په اړه يي منځګړيتوب شوی دی. د باميانو د ولايت د کورنی د غبرګون څانګي ۱۲ قضيي ثبت کړی دي او ۱۰ يي مشرانو ته د حل لپاره او دوه يي د عدلي تعقيب په موخه استولي دي.

په کابل کی د تاوتريخوالی په ضد د کورنی غبرګون د څانګی مشری يوناما/اوايچ سی ايچ آر ته څرګند کړ چی د کورنی غبرګون څانګي هم ځيني وختونه د سپين ږيرو منځګړيتوب منلی دی. وروسته له دې چي عارض خپل شکايت وړاندې کوي، مشران ځيني وختونه د کورني غبرګون څانګي ته مراجعه کوي او د دې غوښتنه کوي چي د منځګړيتوب لپاره اجازه تر لاسه کړي. په داسي قضيو کي مشران خپله پريکړه پر کاغذ ليکي، هغه لاسليک او يا مهر کوي او بيا يي دکورني غبرګون د څانګي سره شريکوي. که چيرې پريکړه د قانون خلاف وي نو د کورني غبرګون څانګه کولای شي هغه مسترده کړي او خپل تفتيش ته ادامه ورکړي.[90]

يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته جوته شوې ده چي د عدلي تعقيب دفترونه چي ورته نيغ په نيغه او يا هم د پوليسو د لارې شکايتونه رسيږي هغوي هم زياتره وختونه ډيرې قضيې د بيلا بيل منځګړيتوب لپاره استوي او شاکي اړخونه دې ته

---

[86] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی ۶۰ قضيې د پوليسو له خوا ثبتې شوی دي، چي د هغو څخه ۳۶ يې د ښځې پر عليه د خشونت د منع د قانون له مخې جرمونه ګڼل شوي دي.

[87] په شمال ختيځه سيمه کي يوناما/او ايچ سی ايچ آر د ۱۳۹۰ د وري څخه تر چنګاښ پورې (د ۲۰۱۱ کال د مارچ- جولای) هلته پلټنې کړي او هلته ورته دا جوته شوې چي هغه قضيې چي په کې د ښځو د مالکيت او د وراثت د حقونو مسئلې شاملې دي اکثره وخت د مدني قانون د قضيو په توګه معامله شوي دي او په ابتدايي مرحله کي د منځګړيتوب د لارې او يا هم د مدني محکمې د قضيو په توګه حل شوي دي، که څه هم د وراثت د حقونو څخه انکار او شخصي ملکيت ته د لاس رسي څخه ممانعت د ښځې پر عليه د خشونت د منع د قانون له مخې جرم ګڼل کيږي.

[88] د ننګرهار په ولايت کی د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د قضيو په اړه د يوناما/او ايچ سی ايچ آر څارنه او تحليل، (د ۲۰۱۰ د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر سپتمبر پوری).

[89] د کنړ په ولايت کی د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د قضيو په اړه د يوناما/او ايچ سی ايچ آر څارنه او تحليل، (د ۲۰۱۰ د مارچ څخه د ۲۰۱۱ تر سپتمبر پوری).

[90] د سمونمل ذکيه عصمت الله، د افغان ملي پوليسو د کورني غبرګون د څانګي مشری سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د زمری ۳ (جولای ۲۵، ۲۰۱۱ ). يوناما په افغانستان کي د دوديزو هغو ميکانيزمونو په اړه چي د دغه ډول شخړو حل رامنځته کوي ارقام نه لري.

هڅوي چي خپل شکايتونه بيرته واخلي او سره پخلا شي. دغه مطلب په مرکو کې د جنايي تحقيقاتو په چارو کې د لويې ځارنوالۍ د مرستيال او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزې لپاره د اختصاصی ځارنوالۍ د مشر له خوا څرګند شو.[91] د يوناما/او ايچ سی ايچ آر د موندنو له مخي د ٥٩٤ ثبت شوو هغو قضيو څخه چي د ښا رې ځارنواليو د دفترونو له خوا ثبت شوي دي يوازي ١٥٥ عدلی تعقيب شوي دي، او په دې ډول په زياتو قضيو کې هغه د دې څرګندويه دي چي زياتره دوسيې د منځګړيتوب په موخه استول شوي او يا هم دا چي د عارضينو له خوا شکايتونه بيرته اخيستل شوي دي.

نږدې ٧٠ قضيې چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزې لپاره اختصاصی ځارنوالۍ ته رسيدلي دي د شکايت د بيرته اخيستني، د مدارکو او ثبوتيه دلايلو د نشتوالی، او يا هم د عارضينو د لا درکه کيدو له امله دغه قضيې تړل شوي دي. د دغي ځانګي مشر يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته وويل چي کله د دغې ځانګې ځارنوالان دغه اتهام شوي جرمونه څيړي *"لو که چيرې هغوی دا مشاهده کړي چې دغه جرمونه جدي نه دي يا دا چې ساده تخلفات دي او يا هم که چيرې شکايت د هيجان او د فشار په پايله کې شوی وي او که چيرې د شکايت کوونکې لپاره دا ممکنه وي چې بيرته د خپلې کورنۍ سره يو ځاي شي او يا هم په سوله بيزه توګه د خپل ميره سره واوسيږي، نو هغوی دوي هڅوي چې سره پخلا شي او خپلې عريضې او قضيې وتړي. دا د دې لپاره کيږی چې د کورنۍ تحفظ او ساتنه وشي."*[92]

### *دافغانستان قانون او د جدي جرمونو د منځګړيتوب امکان*

ډيرو مطالعاتو دا جوته کړې چې د جنايي او مدني پر مسئلو باندی د پريکړو لپاره د رسمی عدالتی سيستم د باندی نهادونو څخه استفاده کول په افغانستان کی معمول دی.[93] د مسئلو د هوارولو لپاره د رسمی عدالی سيستم څخه د باندی نهادونو ته ترجيح ورکول اوس هم دوام لری. په داسی حال کی چی د مشخصو لانجو د هوارولو لپاره د منځګړيتوب څخه استفاده کول د منلو وړ دی، خو د.جدی جرمونو په وړاندی يوه غوره لاره نه ده او د نړيوالو قوانينو او پاليسی ګانو په ضد واقع کيږی.

د افغانستان مدني قانون په داسی حال کی د منځګړيتوب نقش مني، چی د افغانستان په نورو جزايي قوانينو کی د دې يادونه نه ده شوې. د دې سره سره په قوانينو کې د دې لپاره ځای شته چې شکايت کوونکی ته د دی اجازه ورکوی چی خپل شکايت بيرته واخلی. ځارنوال د جزايي اجرااتو د موقت قانون سره سم بايد ټولو هغو جرمونو لپاره چي مستقيما د هغه له خوا پيژندل شوي او يا هم ورته راپور ورکړل شوی دی جزايي اقدام معرفي کړي.... مګر دا چي قانون په واضح توګه بل ډول حکم کړی وي."[94]

د ٢٢ جرمونو څخه چي د ښځې پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون له مخې توضيح شوي دي ١٧ يې يوازي کيدای شي چي د قرباني او يا د هغه د مدافع وکيل د شکايت پر بنسټ د عدلي تعقيب لاندې راشي او د هغو عدلي تعقيب او مجازات يوازې هغه وخت دريدلای شي کله چي قرباني شخص خپل شکايت خارج کړي. د دغو ټولو جرمونو چيرته چي قرباني د دې سره موافقه کوي نو کيدلای شي چي د عدلي تقعيب پر ځای منځګړيتوب غوره کړای شي.

د دغو ١٧ جرمونو اکثريت يې جدي جرمونه دي. د دغو جرمونو څخه دوه يې "د واده په موخه او يا هم د واده په پلمه د ښځې پلورل او رانيول" (٢٤ ماده) او "بد" [د قتل او يا هم بل جرم د جزا او تلافی لپاره د ښځې ورکول] (٢٥ ماده) جدي جرمونه پيژندل شوی دي، په همدی ډول "ټپی کول يا معيوبول" (٢٢ ماده) چې د جرم په شدت پورې اړه لري. نور جرمونه چې د هغو عدلي تعقيب د قرباني شخص په شکايت پورې تړاو لري په لاندی ډول دی: اجباري واده، د

---

[91] د لويی ځارنوالۍ د جنايي تحقيقاتو د چارو مرستيال نور الحبيب جلال او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی ځارنوالۍ د مشرې قدسيې نيازی سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د١٣٩٠ کال د زمری ١٩ (د ٢٠١١ د اګست په ١٠).
[92] د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزی لپاره د اختصاصی ځارنوالی د مشرې قدسيې نيازی سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د١٣٩٠ د وږی ٢٩ (د ٢٠١١ د سپتمبر ٢٠).
[93] "په پکتيا او ننکرهار کې د رسمی او غير رسمي عدالت. د تې ايل او کاري پاڼه" د ٢٠١١ فبروري ؛" په کابل کې د ټولنې پر بنسټ د منازعې د حل کولو پروسی" ريبيکا ګانګ، د افغانستان د ريسرچ او ارزونې موسسه، د ٢٠١١ مارچ)، "په افغانستان کې د شخړو غير رسمی حل" د امريکا د متحده ايالاتو د سولې انستيتيوت، (د ٢٠١٠ اګست).
[94] د جزايی اجرااتو موقت قانون، ٢٢ ماده.

واده له حق څخه ممانعت، د کوچني عمر واده، په اجباري توګه تجريدول، په اجباري توګه اعتياد ته اړ کول، د وراثت له حق څخه محرومول، د ملکيت د لاس ته راوړلو څخه ممانعت، ښووني او روزني، کار او روغتيايي خدمتونو ته د رسيدني څخه مخنيوی، په اجباري توګه کار ته اړ کول، په خاصو حالاتو کې د زياتو ښځو درلودل، د خپلوی د اړيکو ردول، وهل او سخت ټپي کول، ښکنځل کول، تحقيرول او ډارول، ځورول او ازارول.

د جنسي تيري، فحاشی ته اړايستل، د قرباني د هويت افشاء کول، سوځول او د کيمياوي توکو کارول او ځان سوځووني يا ځان وژنی ته اړ کول په ټولو دغو قضيو بايد د يوازه څارنوال له خوا پی ګيری شي.[95] څنګه چې په دی راپور کی مخکی يادونه وشوه، يوناما/او ايچ سی ايچ آر په خپلو څيړنو کی وموندله چې څارنوالان دغه قضيی تر عدلی تعقيب لاندی نه دی نيولی.

### د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالی په قضيو کی د پوليسو له خوا منځګړيتوب

د پوليسو او يا هم د نورو موسسو له خوا منځګړيتوب د ژمنليک په ليکلو سره چې د ښځي او ميړه له خوا او يا هم د تيري کوونکي له خوا معمولا چې په کي دوه د ښه شهرت کسان چې د دغي کورنی د محل څخه وي د شهادت کوونکو په توګه حاضروي، صورت نيسي. که څه هم د دې لپاره معياري شکل وجود نه لري، معمولا متخلف/مجرم د دې سره موافقه کوي چي نور به تيری او تاو تريخوالی نه کوي، دا مني چې که بيا تيری تکرار شي نو قانون په بشپړه توګه پلی کيږي. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی مشر د وينا له مخي کله چې هغه يوه قضيه د عدلي تعقيب پرته حل کوي، نو دغه دفتر د تيری د تخلف لپاره يوه ژمن ليک لري، چې که متخلف ليک لوست لري نو هغه ډکوی او لاسليک کوي يې، او دغه پاڼه دوه تنه شاهدانو هم لاسليک کوي.

د ملي پوليسو د کورنی غبرګون د څانګي مشرې يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته وويل چې تر دې مهاله د منځګړيتوب چارې ۶۰ سلنه بريالی دي.[96] په نورو قضيو کي کله چې تيری تکراريږی او قضيه بيرته دوي ته راځي نو هغوي بيا قضيه د جنايي تحقيقاتو رياست او يا هم څارنوالی ته سپاري. د کورنی غبرګون د څانګي مشرې[97] دا ومنله چې ټولې ښځې چې په پرله پسې توګه د تيري سره مخ دي د کورنی د غبرګون څانګي ته د کورنيو او نورو فشارونو له امله بيرته مراجعه نه کوي. هغې يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته وويل چې د هغې دفتر کوښښ کوي څو قضيه تعقيب کړي، د قرباني څخه ليدنه کوي، ورته ټيليفون کوي، او يا هم دا چې د قربانی د ګاونډيانو څخه معلومات تر لاسه کوي چې آيا هغه بيا هم د منځګړيتوب څخه وروسته د تيری سره مخ ده او که نه.

### د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالی په قضيو کی د ښځو چارو د رياستونو له خوا منځګړيتوب

د کورنی منځګړيتوب او د واده شخړې چې په کې ځينې کورني تاوتريخوالي هم شامل دي په پراخه کچه د ښځو چارو د رياستونو له خوا رامخې ته شوي دي. د مثال په ډول، د شمال ختيځې سيمې د کندز ولايت د ښځو چارو رياست د ۱۷۶ قضيو څخه چې ورته رسيدلي دي د ۱۵۰ قضيو په اړه منځګړيتوب کړی دی او ۲۶ نورې يې عدلي او د پوليسو مقاماتو ته استولي دي. د لويديځې سيمي غور ولايت د ښځو چارو رياست ته ۳۳ قضيې رسيدلي دي چې د ۱۱ په اړه يې منځګړيتوب کړی دی او ۷ نورې يې محلي سپين ږيرو ته استولي دي.

د زياترو جرګو او شوراګانو په مقايسه چې اکثرا ښځو ته د ګډون اجازه نه راکوی، د ښځو چارو رياستونه، د بشري حقونو خپلواک کميسيون او د پوليسو د کورني غبرګون څانګې ښځو ته د منځګريتوب سپارښتنه کوی ځکه چې منځګړيتوب ښځو ته د حل لاری د موندلو فرصت راکوی.[98]

---

[95] د ښځې پر عليه د خشونت د منع د قانون د ۳۹ مادې سره سم.

[96] د کابل ولايت د ملي پوليسو د بشری حقونو مرجع وويل چې منځګړيتوب ۸۰ سلنه قضيو کې بريالی دی، او دا چې پوليسو د نا دولتي موسسو سره چې د منځګړيتوب قضيې تعقيبوي همکاري پيل کړې ده څو دا باوري کړي چې تيري او تخلف بيرته نه تکراريږي، د ۱۳۹۰ کال د وږي ۲۴ نيټه (د ۲۰۱۱ د سپټمبر ۱۵)

[97] د سمونمل ذکيه عصمت الله، د افغان ملي پوليسو د کورني غبرګون د څانګې مشری سره د يوناما/او ايچ سی ايچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د زمری ۳ (جولای ۲۵، ۲۰۱۱ ).

[98] د دوو ښو تر منځ تصادم: په افغانستان کې د لانجو دولتي او نا دولتي حل،" د امريکا د متحده اياالاتو د سولې انستيتوت، کال ۱۳۸۵، (۲۰۰۶).

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ښځو د چارو د کمیشنرۍ د وینا له مخې ښځې اکثرآ نه غواړي چې چارواکو ته دخپلو میړونو په اړه شکایت وکړي. سره د دی چې ښځی په دی پوهیږی چی نوری ښی لاری هم لری، هغوی د ستونزی د حل د یوه داسی لار په هیله چی د دوی د کورنی یووالی وساتی، او په عدلی سیستم کی د لګښتونو او عوامو د ځیر کیدنی د ډار له مخی منځګړیتوب ته ترجیح ورکوی.[99] همدارنګه په عدلی سیستم کی د زیاتو لګښتونو او فساد د شتون له کبله ښځی عدلی تعقیب ته زړه نه ښه کوي.

## د ښځو پر علیه د تاویریخوالی د قضیو د هوارولو لپاره په منځګړیتوب باندی د تکیه کولو په اړه اندیښنی

په منځګړیتوب باندی د افغان چارواکو د حد نه زیات تکیه کول (حتی ځینی وخت د جدی جرمونو په وړاندی هم د منځګړیتوب کارونه) د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د روحیې او متن سره مغایرت لری چی موخه یی دا دی چی د تاوتریخوالی د قربانی ساتنه وشی، د لا زیات تاوتریخوالي مخه مخنیوي وشي او د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی عاملین تر عدلي تقعیب لاندې راوستل شي.[100]

په نړیواله کچه زیات ماهران د کورني تاوتریخوالي په برخه کې په منځګړیتوب باندې د زیاتې تکیه کولو په ا ړه محتاطه دي. "منځګړیتوب د کورنۍ د لانجو د حل لپاره یوه ځواکمنه وسیله ده خو د کورني تاوتریخوالي په قضیو کی د مصؤونیت د مسئلی او د ځواک د نابرابری په پام کی نیولو سره اکثره وخت مناسب نه وي او باید له هغه څخه ډډه وشی."[101] بل ماهر وویل: "منځګړیتوب په داسی حالتونو کی عملی کیږی چی د دواړو خواوو ځواک په نسبي ډول سره برابر وی او د خپل اختلافاتو د حل لپاره د دی اراده ولری چې په ښه توګه یو بل ته غوږ ونیسی. تیري کوونکي میړه او ښځه کیدای شی ډیر لږ او یا هم هیڅ لیوالتیا ونه لري چې یو بل ته غوږ کیږدی او یو توافق ته سره ورسیږي. د ځواک په اړه د ناندریو نا انډولي کیدلای شي ستونزمنه وي او یا هم دا چې پر هغو بریالیتوب نا ممکن وي، حتی دا چې منځګړی هم شتون ولري."[102]

د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې په منځګړیتوب باندې په تکیه کولو سره ځینې بیا په دې تاکید کوي چې هغه د عدم تبعیض د بین المللي معیارونو څخه تیري کوي. د غوره تجربو له مخې کورنی تاوتریخوالی باید په قانوني لحاظ د نورو تجاوزاتو او تیریو سره په برابر ډول وګڼل شي. د ۱۹۹۳ کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پاي ته رسولو اعلامیه پر دولتونو غږ کوي چې هغوي: "باید د دې لپاره پوره هڅه وکړي څو د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی منع کړي، د هغی څیړنه او تحقیقات وکړي او د نړیوالو قوانینو سره په مطابقت کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د اعمالو له امله مجازات ورکړي که څه هم دغه ډول اعمال د دولت له خوا وي او یا هم د انفرادي اشخاصو له خوا."[103]

د ۲۰۰۸ کال د ملګرو ملتونو د متخصصانو د ډلې "د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د قانون په جوړونه کی ښه اجراات" په غونډه کې د دې وړاندیز وشو چې د ښځو پر خلاف د تاوتریخوالي په قضیو کې پر منځګړیتوب باندې ممانعت وضع شي. د غونډې راپور داسې تبصره کوي: "په اکثرو هیوادونو کی د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په قوانینو کی منځګړیتوب د جزایی عدالت او د کورنۍ قانون لپاره یو بدیل پیژندل شوی دی. خو دغه منځګړیتوب، قضیی د قضایی څیړنو څخه لیری ساتی، داسی فریضه رامنځته کوی چی ګواکی دواړه خواوی د چنې وهلو برابر ځواک لرې، یوه داسی مفکوره انعکاسوی چی ګواکی دواړه خواوی د تاوتریخوالی لامل دی او په دې توګه د متخلف

---

[99] د ښځو په چارو کې د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرۍ ډاکټر ثریا صبحبرنګ سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکه، ۱۳۹۰ کال د غبرګولی ۳۰ نیټه (جون ۲۰، ۲۰۱۱).

[100] د ښځې پر علیه د خشونت د منع د قانون ۲ ماده وګوی.

[101] س. ګراس کراو پیترګ جافی "د ماشوم د ساتنې د ستونزو د کلنیکي تفاوتي روشونو اړتیا د کورني تاوتریخوالی او د کورنی تاوتریخوالي حقوقي اړخونه او د ساتنې/رسیدنې مسئلو په اړه موندنې، د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې د مشتري د استازیتوب په غوره تجربو کې چې د کاناډا د عدلي څانګې له خوا نشر شوي دي."

http://www.justice.gc.ca/eng/pi/fcy-fea/lib-bib/tool-util/topic-theme/viol2b.html

[102] د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې د مشتري د استازیتوب لپاره غوره تجربې د عدلي چارو ریاست کاناډا.

http://www.justice.gc.ca/eng/pi/fcy-fea/lib-bib/tool-util/topic-theme/viol2b.html

[103] د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په اړه اعلامیه، څلورمه ماده (ج)، کال ۱۳۷۱ (۱۹۹۳).

او مجرم حساب ورکوونه راکښته کوي. په زيات شمير هيوادونو کي د ښځو پر وړاندي د تاوتريخوالي په قضيو کي د منځګړيتوب څخه ډډه کيږی."[104]

ځينو هيوادونوو په ملی يا محلی کچه داسی قوانين جاری کړی چی دکورنی تاوتريخوالی د عاجلو قضيو د رسيدګی لپاره د پوليس واکونه کموی. په دی کی د مدنی حمايت حکم (چی د مخنيوی حکم يا د ساتنی حکم هم ورته ويل کيږی، په هغه صورت کی چی يو اړخ يو حکم ته غاړه نه ږدی، نوموړی شخص د جزايی يا مدنی مجازاتو سره مخ شی او يا دا چی د خساری جبران ورکړی يا يی هم بنديزونه ومنی)، د اجباری نيونی پاليسی، او د اجباری عدلی تعقيب پاليسی شامل دی. د اجباری نيونی قوانين پوليس افسران په دی مکلف کوی چی هرهغه شخص ګرفتار کړی چی د کورنی تاوتريخوالی په جرم کی دخيل وی او يا هم د مدنی حمايت د يو حکم څخه سرغړونه وکړی. د اجباری عدلی تعقيب پاليسی ګانی عدلی تعقيب ته اجازه ورکوی حتی که متضرر شخص خپل شکايت هم بيرته واخلی.[105]

د افغان چارواکو لپاره يو ضروری امر دا دی چی د نيونی او عدلی تعقيب په اړه خپل مکلفيت ترسره کړی او د ښځو په عليه د تاوتريخوالی مجرمين تر محاکمی لاندی راولی. د تاوتريخوالی د قربانيانو د بشپړی ساتنی په موخه د منځګړيتوب د کارونی د يو لاربښود د جوړولو په اړه هم بايد په عين وخت کی بحثونه پيل شی تر څو د ښځو په وړاندي د تاوتريخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالي او د عدليی وزارت د حقوقو رياست وکولای شی له دی څخه په استفادی سره د منځګړيتوب روش وکاروی.[106]

### د شخړې د حل عنعنوي ميکانيزمونه

په افغانستان کي دوديز ميکانيزمونه د هيواد په ټولو برخو کي د دولتی ادارو تر څنګ شتون لري. د با نفوذو نارينه وو څخه جوړ شوی دا ميکانيزمونه په عمومی توګه کوښښ کوی چی کورنی وساتی او د قبيلوی او نورو شخړو د لا خرابيدو مخنيوی وکړی نسبت دی ته چی د افرادو ګتی وساتی او ياهم قانون تطبيق کړی.[107]

په کابل کی د منازعاتو د حل د پروسی په هکله يو وروستی رپورت ليکی چی "په پراخه کچه فساد "د رسمی او يا غير رسمی پروسو پر انتخاب اغيزمن دی." د شخړو د اړخونو لاسرسی منابعو ته چی دوی وکړای شی رشوت ورکړی او د روابطو شتون چی د ولسوالی په دفاترو کی پر منځګړو اغيز لری" په دی کی چی خلک رسمی سيستم انتخاب نه کړی، ونډه لری. رپورټ زياتوی چی د رسمی عدلی سيستم تطبيق د دولتی چارواکو سره د روابطو، د شخړو د حل په برخه کی د دولت د مسؤوليت اخيستلو فرهنګ، د نفوسو نا متجانس جوړښت، او د خلکو د بی ځايه کيدلو او ښاری کيدنی په وجه په ټولنيز ژوند کی بدلونونو څخه، په تيره بيا د ښځو د حقونو په اړوند، متأثره کيږی.[108]

د تخار ولايت د ښځو چارو رئيسی يوناما/او ايچ سی ايچ آر ته وويل چی هغه ترجيح ورکوی چی د کورنيو ستونزو موارد او کورنی شخړی د محلی جرګو له لاری حل شی ځکه چی هغه حل چی د منځګړيتوب له لاری پيدا کيږی د محلی وګړو لپاره د محکمی د حکم په نسبت زيات د منلو وړ وی. همدا رنګه هغی زياته کړه چی "که زه يوه قضيه د قانون پلی کوونکو ادارو ته وليږم نو دا به د مسئلی د حل پوری کلونه دوام ومومی."

يوناما/او ايچ سی ايچ آر په دايکندی ولايت کی داسی يوه قضيه درج کړی چی په هغه کی داسی انديښنه څرګنده شوی چی د ښځې په وړاندی د تاوتريخوالی په جدی قضيو کی د حل دوديز ميکانيزمونه کارول شوی دی. د دای کندی ولايت

---

[104] غوښتل شوی په "کورنی تاوتريخوالی قانون او دهغه تطبيق" لمړی چاپ۲۰۰۹. يونيفيم له خوا بيا کتل شوی دوهم چاپ۲۰۱۱، د ښځو لپاره د ملګروملتونو اداره (UN Women)، لاسرسی په لاندی پته:
http://www.un.org/womenwatch/daw/egm/vaw_legislation_2008/vaw_legislation_2008.htm

[105] زياتو معلوماتو له پاره وګوری " کورنی تاوتريخوالی قانون ..... " پورتنی ماخذ ، او دملګرو ملتونو جوړښت د داخلی سرغړونو په هکله نمونه يی قانون (E/CN.4/1996/53/Add.2 )

[106] د IDLO دغه نظر د ۲۰۱۱ په اکتوبر کی مطرح شو.

[107] ننګرهار او پکتيا کی رسمی او غير رسمی عدالت " وګوری : ۲۰۱۱ کال فبروری او "افغانستان کی دمنازعاتو غيررسمی حل " دامريکا متحده ايالاتو سولی انستيتوت ،۲۰۱۰ اګست، دنورو مطالعاتو ترمنځ.

[108] "په کابل کې د ټولنې په کچه د شخړو د حل پروسې،" ريبيکا ګانګ، د افغانستان د ريسرچ او ارزونې واحد (موسسه)، وری ۱۳۹۰ (مارچ۲۰۱۱ ).

اړوندو چارواکو دغه قضیه محلی مشرانو ته د حل لپاره استولی ده.[109] په دی قضیه کی یو نارینه خپله ښینه د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۱ څو څو واری په چاړه وهلی. هغه ښځه ژوندی پاتی شوی وه په روغتون کی بستری شوه او پولیسو مرتکب ونیوه. خو یو څو ورځی وروسته چاروکو یوناما/او ایچ سی ایچ آر ته وویل چی دغه قضیه د غیر رسمی عدلی سیستم له لاری د ټولنی د مشرانو په مرسته حل شوه. د دوی حل د هغه سړی له خوا دا وعده یا تعهد و چی هغه به خپله ښینه آرامه پرېږدی. څارنوال له مسؤولیت اخیستلو څخه انکار وکړی او پړه یی پر پولیسو واچوله چی هغوی دا قضیه محلی مشرانو ته استولی ده.[110]

## ۴- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره کمیسیونونه

### (۱) د ښځو په وړاندې د خشونت د منع عالی کمیسیون

د هیواد د هڅو د پر مخ بیولو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر عالي کمیسیون جوړ کړ. د دې کمیسیون ریاست د ښځو د چارو د وزارت په غاړه دی، دا باید د دولت، نادولتی سازمانونو او اړونده سازمانونو ترمنځ چارې همغږې کړي، څو په موثره توګه د تاوتریخوالي سره مبارزه وشي. د دې کمیسیون صلاحیت لرونکی غړي په لاندې ډول دي: د لوي څارنوال مرستیال، د کورنیو چارو، عدلیې، عامې روغتیا، اطلاعاتو او کلتور، معارف، لوړو زده کړو، کار او ټولنیزو چارو شهیدانو او معیوبینو، د حج او مذهبي چارو وزارتونو معینان، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون استازي، د کورنۍ څانګړې محکمې مشر او د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواک انجمن مشر.[111]

یوناما/او ایچ سی ایچ آر د کمیسیون د جوړیدو او د همدې کمیسیون د ۱۳۸۹ د غبرګولي (د ۲۰۱۰ د جون) د میاشتې د پریکړې چی له مخې به یې په هر ولایت کې ورته دفتر جوړ شي، هرکلی کوي. دا کمیسیون د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د جزایي حکمونو او وقایوي او حمایوي تدبیرونو د ودې لپاره د یوه امید بخښونکی میکانیزم وړاندیز کوي. سره د دی هم دغه کمیسیون لا زیات ملاتړ ته اړتیا لری تر څو وتوانیږی خپل چالش لرونکی دندی سره ته ورسوی.[112]

عالي کمیسیون د ښځو چارو د وزیرې په مشرۍ منظمې ناستې ترسره کوي. زیاتره صلاحیت لرونکي غړي اکثراً په غونډو کې موجود وي، مګر د مدافع وکیلانو د انجمن پرته د مدني ټولنې سازمانونه د دې کمیسیون په غونډو کې برخه نه اخلي. فعلاً ګډون کوونکي راپورونه تیاروي، او د دولتی تلویزیون اکثراً د کمیسیون د غونډو لنډې تصویري ټوټې خپروي. د راپورونو سره سم کمیسیون د قضیو د تعقیبولو په موخه یو څو وړاندیزونه تیاروي مګر هغه بیلا بیل غړې چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون لاندې د خپلو دندو په ترسره کولو کې پاتې راځي په موثره توګه مسؤول نه ګڼي.[113]

---

[109] د دایکندي ولایت څارنوالی ۱۷ قضیې ثبتی کړی چی له دی جملی څخه یوازی یوه قضیه د ښځې په وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخې محکمی ته راجع شوی دی. د دی ولایت ښاری محمکه د دغه قانون له مخې یوه دوسیه هم نه ده فیصله کړې.

[110] د سنګ تخت بندر د ولسوالی د څارنوالی او د پولیسو د قوماندان سره د یوناما/او ایچ سی ایچ آر مرکی، د ۱۳۸۹ کال د لیندۍ د میاشتې ۲ (د ۲۰۱۰ د نومبر ۲۳).

[111] د ښځې پر علیه د خشونت د منع د قانون ۱۵ ماده.

[112] د ښځې پر علیه د خشونت د منع د قانون ۱۶ ماده د کمیسیون دندې او د خشونت د قضیو د څیړنې شرح کوي مخه نیونکي تدبیرونه لارې ته اچوي، او همدارنګه د خشونت د قضیو په اړه معلومات او احصایي راغونډوي، د خشونت سره د مبارزې په موخه دولتي او نا دولتي فعالیتونه همغږي کوي، د عامه پوهاوي پروګرامونه او د خشونت پر ضد خپرونې طرح کوي او همدارنګه د ښځې پر علیه د خشونت د منع د قانون د لا ښه پلی کولو لپاره د طرز العملونو او لارښوونو وړاندیز کوي.

[113] د ښځو په چارو کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرې آغلې ډاکټر ثریا صبحرنګ سره د یوناما /او ایچ سی ایچ آر مرکه، د ۱۳۹۰ کال د غبرګولی ۳۰ (د ۲۰۱۱ کال د جون ۲۰).

## (۲) ولایتي کمیسیونونه

ولایتي کمیسیونونه یو مختلف تصویر وړاندې کوي. یوناما/او ایچ سی ایچ آر موندلي چې د هیواد د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۲۸ ولایتونوکي د دې کمیسیون څانګې جوړې شوي،[114] خو د د ې کمیسیون یوازې ۱۶ څانګې په منظم ډول خپلې ناستې ترسره کوي. د وروستیو لاربنودونو سره په مطابقت کې د دې کمیسیون یو څو څانګې د ښځو د چارو د وزارت له خوا د فعالو دفترونو په حیث پیژندل شوي، ددې لاربنودونو له مخې د ولایتي کمیسیون مشري باید د والي له خوا ترسره شي او د ښځو د چارو ریاست باید د سکرتریت رول ولوبوي. د اصلي لاربنودونو له مخې د پاتې نورو کمیسیونو رهبري باید د ښځو د چارو د وزارت له خوا ترسره شي.

ولایتي کمیسیونونه د هغوی د عملیاتو له لحاظه له یو بل نه توپیر لري. ځینو کمیسیونونو یو وار غونډه کړې او نور لا هم د کار د لایحو پر سر خبرو اترو ته دوام ورکوي. د کومې خاصې بودجې او کار کوونکو د نه شتون له کبله، د دې کمیسیونو چارې د غړو د مرستو او همکاریو پورې تړلې دي. حکومتي کارکوونکي زیاتره د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون سره بشپړه اشنایي نه لري او ځینې نور یې د دې قانون د ځینو مادو سره مخالفت کوي. ځینې والیان غیر فعاله دي او د ښځو د چارو ریاستونه هیڅ تجربه نه لري او ظرفیت یې محدود دی. په ځینو ولایتونو کې د لاربنودونو له مخې د ښځو د چارو د ریاست څخه والیانو ته د مشرتابه انتقال مغشوش والی او ګډوډې رامنځ ته کړې. په بلخ کې د بیلګې په توګه، د عالي کمیسیون څخه د معلوماتو/ توضیحاتو د تر لاسه کولو په موخه ناستې د کومې نتیجې د تر لاسه کولو پرته پای ته رسیدلي. له بلې خوا د فاریاب په ولایت کې د ښځو د چارو ریاست والیانو ته د مشرتابه د انتقال ستاینه کړې او تمه کیږي چې د دې ولایت د کمیسیون د موقف او موثریت سره به مرسته وکړي.

تر ټولو غښتلي کمیسیونونو کې، غړو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي انفرادی قضیو ته ځواب ویلی، د ساتنې په برابرولو کې یې د قربانیانو سره مرستې کړې، د مرتکبینو په وړاندې یې د قضایي عمل دفاع کړې او د منځګړیتوب لپاره یې فرصتونه برابر کړي. هغوی همدارنګه د خپلو غړو سره د پوهاوي د کچې د لوړولو د فعالیتونو د ترسره کولو په چارو کې برخه اخیستې او په ځینو مواردو کې یې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تعدیل په موخه عالي کمیسیون ته وړاندیزونه لیږلي. د ښځو د چارو د ریاست فعاله مشرۍ او ګډون او د مدني ټولنې د تجربه لرونکو سازمانونو ملاتړ، اکثراً په کلیدي عنصرونو کې راځي. دغه عنصرونه کولای شي حتی په ډیرو ستونزمنو حالاتو کې یو کمیسیون په دې قادر کړي څو بدلون رامنځ ته کړي.

د یو شمیر کمیسیونونو د څرګندو فعالیتونو نمونې په لاندې ډول دي او بنایي د نورو کمیسیونونو او د تاوتریخوالي ضد وکیلانو لپاره ګټورې وي.

- **نیمروز، جنوبي سیمه**

د نیمروز کمیسیون د ۱۳۸۸ کال د لړم په ۱۰ (د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱) نیټه جوړ او په منظمه توګه غونډې ترسره کوي. د دې کمیسیون ریاست د ښځو د چارو د ریاست او د والي په ملاتړ ترسره کیږي. د کمیسیون د ۱۲ اصلي غړو نه برسیره دغه کمیسیون په غیر رسمي ډول د ملګرو ملتونو نمایندګیو او یو شمیر دولتي او نا دولتي سازمانونو ته د ګډون بلنه ورکوي. دا کمیسیون د ښځو د ساتنې د موجوده شبکې څخه رامنځ ته شوی چې په باندې د کار په ډګر کې یې سابقه هم درلودلې. دا کمیسیون د ښځو د حقونو او ساتنې لپاره د ریاستونو او سازمانونو د یوې شبکې په حیث کار کوي. د یوه صلاحیت لرونکي کمیسیون په درلودلو سره اوس هم محکمو ته د ښځو د قضیو د لیږلو په ډګر کې عنعنوي ستونزې خپل ځای لري او نه پریږدي چې قضیې محکمو ته لاړې شي. څارنوالانو او محکمو لا هم د ښځې پر علیه د تاتریخوالی د منع قانون نه دی کارولی.

- کله چې د کمیسیون یو غړي د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي کومه قضیه تر لاسه کړي، بیا هغه کمیسیون ته سپارل کیږي، یوه فرعی کمیټې موضوع د پولیسو، څارنوال او محکمې او کله نا کله د قرباني شخص د کورنیو او مرتکب سره تعقیبوي.

---

[114] هغه ۶ ولایتونه چې پکې ولایتی کمیسیون نه دی جوړ شوي په لاندی ډول دی: هلمند، کابل، کندهار، نورستان، پکتیکا او زابل.

- **بدخشان، شمال ختیځه سیمه**

دا کمیسیون د ۱۳۸۹ د غویی په ۱۸ (د ۲۰۱۰ د می په ۸) نېټه جوړ او ریاست یې د بدخشان د والی له خوا ترسره کېږي او هره میاشت منظمې ناستې ترسره کوي. د ښځو د چارو ریاست د بسیج کولو په چارو او د فعالیتونو په ترتیب او تنظیم کولو کې مهم رول لوبوي. کمیسیون د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په تړاو ارزونه او تحلیل بشپړ کړی، د پولیسو او څارنوالانو څخه یې د انفرادي قضیو په اړه معلومات راغونډ کړي، د خشونت د مخنیوی په موخه یې د عامه پوهاوي پروګرامونه دایر کړی، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو په اړه یی احصایي راغونډې کړي او عالي کمیسیون ته یې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د تعدیل په هکله وړاندیزونه کړي.

- سره د دی چې نړیوال او داخلی سازمانونه د دی کمیسیون په ناستو کی برخه نه اخلی، خو بیا هم دا کمیسیون د هغو سازمانونو سره همغږي کوی چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د پای ته رسولو لپاره کار کوی.
- د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلی کیدو په هکله حکومتي نهادونو ته سلا مشورې ورکوي.

- **بامیان، مرکزي لوړه سیمه**

د بامیانو د ولایت کمیسیون د ۱۳۸۹ کال د زمری د میاشتې په ۴ (۲۰۱۰د جولای ۲۶) نېټه جوړ او رهبري یی د لومړیو څو میاشتو په ترڅ کې په فعال ډول د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا وشوه او وروسته د افغانستان د یوازیني ښځینه والی تر مشرتابه لاندې راغی. کمیسیون د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د بیا کتنې په موخه یوه کمیټه جوړه کړه. دې کمیټې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۳ او ۳۹ مادې په هکله وړاندیزونه ترتیب کړي او عالي کمیسیون ته یې یوه مسوده جوړه کړی. دغه کمیسیون د والی د دفتر په مالي ملاتړ د مدني ټولنې او حکومتي ریاستونو لپاره د ظرفیت جوړلو یو شیمر سیمینارونه ترسره کړي. د اسلام له نظره د ښځو د حقونو په اړه د ۱۳۸۹ د لړم په ۴ (د ۲۰۱۰ د اکتوبر په ۲۶) نېټه ټول ټال ۱۵۰ علماوو، روڼ آندو او د ټولنې مشرانو په لومړنی ناسته کې ګډون کړی.

- په یوې ولسوالی کې یې د ادعا شوې ناموس په نوم د وژنې د څېړنې په موخه یو لوړ پوړي پلاوی (د څارنوالی رئیس او د پولیسواو ولایتي شورا د استازیو په شمول) لیږلی دی. د ولایتی شورا، بامیانو پوهنتون، د مدني ټولنې د بشري حقونو شبکې، د ښځو لپاره د امن ځایونو مشرې او نړیوالو شریکبانو ته په منظمه توګه د ګډون بلنه ورکوي.

- **فاریاب، شمالي سیمه**

د فاریاب د ولایت کمیسیون د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ (د ۲۰۱۰ د جولای) په میاشت کې جوړ شوی او دې کمیسیون د ۱۳۸۹ کال په ترڅ کې (وری ۱۳۸۹- وری ۱۳۹۰) ۹ غونډې دایر کړې دي. نوموړی کمیسیون د کال په ترڅ کې ټول ټال ۳۵ انفرادي قضیو ته ځواب ویلی، زیاتره قضیې یې د منځګړیتوب له لارې حل کړې دي او پاتې یې قضاء ته راجع کړې دي.

- د غړو له خوا د پوهاوي د کچې د لوړولو ترتیب او ملاتړ شوي فعالیتونه د حج او اوقافو د ریاست په شمول، نوموړی ریاست د جوماتونو ملا امامانو ته دنده سپارلې څو د اسلام له نظره د ښځو او نارینه وو د حقونو په هکله د جمعې د لمانځه په خطبه کې ویناوې وکړي، او د معارف ریاست د ښکیو د ودونو او د نجونو د ښوونې د حق په هکله لاربښونه کړې.

## ۵- پایلې

یوناما/او ایچ سی ایچ آر له دی نه هرکلی کوی چی دولت متعهد دی چی دښځو پر وړاندی دتاوتریخوالي له منځه یوسی، څرنکه چی دښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون تصویب او نافذ کړ، او د ښځو پر وړاندی دتاوتریخوالي دمخنیوی کمیسیون یی تاسیس کړ .

د یوناما/د او ایچ سی ایچ ار موندني څرګندوي چي عدالت ته د ښځو لاس رسي د ښه کیدو په حال کي دی، ځکه چي د هیواد په یو شمیر برخو کي قضایي کارکوونکو د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په کارولو پیل کړی، که څه هم چي تر اوسه پورې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي یوازې یو څو قضیې تر غور لاندې نیول شوې دي. د دې قانون د شتون په هکله مخ پر زیاتیدو پوهاوی، او د افغان ملي پولیسو د کورني غبرګون د څانګو، د ښځو د چارو د ریاستونو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او د ښځو لپاره د امن ځایونو له خوا ملاتړ ښځي دی ته هڅولي څو را وړاندې شي او د مرستي غوښتنه وکړي.

دافغانستان په ټولو سیمو کی د ښځو لپاره د امن ځایونو یو جدی اړتیا په خپل حال پاتی ده . د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي قانون پر بنسټ د سرغړوونکو عدلی تعقیب بریالیتوب سره زیاتوالی دقربانی شوو ښځو توانایی پوری تړلی ده چی یاد قربانیان څومره دټولنیز او قانونی ملاتړ ترڅنګ مصؤن موقت کورونه لری. ځینی سیمی اوس مهال داسی امن ځایونه نلری . د۲۰۱۱ کال د سپتمبر په ۵ نیټه د وزیرانو شورا له خوا لمړنی مقرره دښځو دامن ځایونو په هکله تصویب شوه چی د دولت قوی نظارت لاندی ټولو هغه سیمو کی چی اړتیا لیدل کیږی باید جوړ شی.

د هیواد په یو شمیر ولایتونو کي د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره ولایتي کمیسیونونه د خپل ماموریت د ترسره کولو په موخه د پیل کیدو په حال کي دي څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر د دولتي او نا دولتي نهادونو ترمنځ د همغږۍ چارې پر مخ یوسي، که څه هم دغه کمیسیونونه زیات ملاتړ او لارښودنو ته اړتیا لري. په نورو سیمو کي کمیسونونه فعال نه دي او یا هم جوړ شوي نه دي.

یوناما/او ایچ سی ایچ آر هیله لری چی دغه راپور وکولای شی دافغانستان دولت سره د ښځو پر وړاندی د سرغړونو له منځه وړلو د پروسی په تقویت کی مرسته وکړی. د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د ښه تطبیق اود تاوبرخوالی او خشونت څخه د ښځو د بشپړی ساتنی په موخه دغه راپور حکومت ته، نړیوالو تمویل کوونکو ته او افغانانو ته د لاندي سپارښتونو وړاندیز کوي.

## ۶- سپارښتنې

**د ښځو د چارو وزارت او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی لپاره عالي کمیسیون ته:**

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په هکله د ولایتي کمیسیونونو لپاره، د هغوي د ترکیب کوونکو غړو په شمول د لاربنودونو او لایحو جوړول، او د داسی طرز العملونو تدوینول څو له دې لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو ثبت او تعقیب ترسره شي.

- د ولایتي کمیسیونونو سره د کار د پلانونو په جوړولو کې مرسته او همدارنګه د هغوي د مسؤولیتونو د ترسره کولو لپاره د اړنیو مهارتونو تر لاسه کول.

- د عالي کمیسیون غونډو ته د کتونکو په حیث د مدني ټولنې، د ښځو د حقونو د انجوګانو، د امن او سرپټونې د مرکزونو د مدیرانو او نړیوالو شریکانو د ګډون بلنه، څو په ځانګړو مسئلو راپور جوړ کړي او په فعاله توګه د کمیسیون د کار څخه ملاتړ وکړي.

- ډاډ حاصل شي څو عالي کمیسیون ښه فعال سکرتریت ولري څو وکولای شي په دې توګه کمیسیون د پریکړو او عمل پلانونه په موثره توګه تعقیب کړي.

- د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۱۶ مادې مطابق، د عالي کمیسیون د فرعي کمیټې په جوړولو غور، او همدارنګه ډاډ حاصل کړي چې قرباني شخص ته خدمتونه، ساتنه او حقوقي ملاتړ برابر شي.

- د منځګړيتوب د کارولو په منظور د یو لاربنود د جوړولو په اړه بحث چې د ښځې په وړاندی د تاوتریخوالی سره د مبارزی لپاره د اختصاصی څارنوالیو او د عدلیی وزارت د حقوقو د ریاست له خوا وکارول شی تر څو د تاوتریخوالی د قربانیانو ساتنه وشی.

**د افغانستان حکومت ته**

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د عالی کمیسیون د لاربنودونو سره سم والیانو ته د لاربنودونو استول او هغوي ته د مسؤولیتونو یادونه څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوی لپاره د ولایتی کمیسیونو مشرتابه په غاړه ونیسی.

- ډاډ حاصل شي چې حکومتي چارواکي، د پولیسو او څارنوالانو په شمول، څوک چې د شخړو د عنعنوي حل لارو میکانیزمونو ته قضیې لیږي، د افغانستان د قوانینو او بشري حقونو د ژمنو د اجابت په موخه د دغو ارګانونو پریکړې له سره وګوري.

**د عدلیې وزارت ته**

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر د عالي کمیسیون او د حقوقي روزنو د داخلي مرکز سره، د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د قضایي چارواکو لپاره د روزنو برابرول. هغه قاضیانو او څارنوالانو چی د یاد قانون په تطبیق کی بریالی ول باید نوروته روزنه ورکړی.

- ډاډ حاصل شي چې د شخړو د حل لارو د موندلو لپاره  هر قانون چې د رسمی عدالت د سیستم او عنعنوي میکانیزمونو(د جرګو او شوراګانو) ترمنځ اړیکې تعریفوي، د ټولو داخلي قوانینو، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په شمول په خپل اجابت کې ښه والی رامنځ ته کړي او د جدي جرمونو د ځوابولو څخه د هغوي مخنیوی وکړي.

### ستري محکمې ته

- د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د مقررو او د افغان قوانینو د اتصال سره د هغوي د کاروني په شمول محکمو ته توضیحات او لارښودونه صادر کړي.
- د عمومی جزا دیوان او د قضایی تفتیش ریاست ته لارښوونه څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په قضیو کې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د محاکمو د مناسبې کاروني څخه نظارت وکړي.

د هیواد په کچه د کورنی او ښاري محکمو په دننه کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره د ځانګړو دیوانونو جوړول په پام کې ونیسي. د دی دیوان قاضیان به د ضرورت وړ مهارتونه رامنځ ته کړي او د عمومی جزا دیوان د ګنې ګوڼې په کمولو کې مرسته وکړي.[115]

### د لویی څارنوال دفتر ته

- ټولو څارنوالانو ته د لارښودونو صادرول څو وښیي چې کوم ډول قضیې باید له جنایي لحاظه تر تعقیب لاندې ونیولې شي او همدارنګه کومې قضیې منځګړیتوب ته راجع شي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو جدي جرمونو د عدلي تقعیب څخه ډاډ.
- په کابل کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی ته د مسؤولیت او دندې په سپارلو غور څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو قضیو هغوڅخه چې ستري محکمې ته رسیږي، نظارت او دغه قضیی تعقیب کړی. دغه اختصاصی څارنوالی کیدای شي د ۱۳۹۱ په تشکیل کې مشخصی شي.
- په کابل کې ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزی لپاره اختصاصی څارنوالی په هکله د یوی ارزوني ترسره کول څو پریکړه وشي چې ولې د هغوي د مجموعي ثبت شویو قضیو څخه یوازې یو څو قضیی تر عدلي تعقیب لاندې نیولې شوې او همدارنګه څنګه کیدای شي د هغه کار پیاوړی شي.
- ډاډ حاصل شي چې د عمومی جزا څارنوالي او د لویی څارنوالی نورې اړوندې څانګې د دی څخه نظارت وکړي چې څارنوالی د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون څنګه کاروي.
- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیو د تعقیب لپاره په ولایتي څارنوالیو کې د کمیسیونونو یا څانګو جوړیدو او ملاتړ ته دوام ورکړ شی.

### د کورنیو چارو وزارت ته

- د پولیسو د اساسي روزنو د یوې برخې په حیث، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون او د دې قانون د کاروني په اړه د یاد قانون معرفي.
- د کورني غبرګون د څانګې په شمول د پولیسو د جنایي تحقیقاتو د ریاست لپاره د لارښوونو برابرول، د هغو جرمونو د نمونو واضح کول چې باید وڅیړل شي او د تعقیب په موخه وړاندې شي او هغه قضیی چې ښایي د پولیسو له خوا د منځګړیتوب له لاری حل شي. او همدارنګه ډاډ حاصل شي هغه ټولې قضیې چې د منځګړیتوب له لاری هواري شوې او یا د پولیسو له خوا د منځګړیتوب په موخه راجع شوې په مناسب ډول ثبت او په رسمي توګه دوسیه یا مستندې شي.

---

[115] "د افغانستان د اسلامي جمهوريت د قضا د صلاحیت او جوړښت په هکله د قانون د ۶۱ (۲) ماده"... د اړتیا په وخت کې، د ولسمشر د تصویب نه وروسته ستره محکمه کولای شي د ولایتي مرکز د ابتدایي محکمې په دننه کې نورې محکمې رامنځ ته کړي. د اړتیا په صورت کې، د ولایتي مرکز د ابتدایي محکمې مشر کولای شي په موقته توګه د یوې محکمې غړي بلې محکمې ته ولیږي.

- د هغو ټولو پولیسو لپاره کوم چې د کورني غبرګون د څانګو سره کار کوي د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په هکله د ځانګړو روزنو برابرول.

- ډاډ حاصل شي هغه ښځې چې د پولیسو ماموریتونو ته ځي وکولای شي په فوري توګه د کورني غبرګون د څانګې سره سلا مشورې ترسره کړي.

- ډاډ حاصل شي چې د کورني غبرګون څانګه د جنايي تحقيقاتو د رياست برخه پاتې شي، په دې مانا چې د هغوي کارکوونکي د څېړنيزو تخنيکونو په هکله د روزنو څخه برخمن شي، او همدارنګه وکولای شي د داخلی خشونت، جنسي تيري او د ښځو په وړاندې د خشونت په نورو پيښنو کې د تحقيقاتو په موخه په بشپړه توګه ګډون وکړي.

- ډاډ حاصل شي چې ښځینه پولیسی په مسلکي دندو وګمارلې شي او د ودې او ترفیع لپاره مساوي فرصتونه دوی ته‌ورکړل شی.

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منځګړیتوب په ټولو قضیو کې یو معیاري ژمن لیک جوړ او وکارول شی. په دغه ژمن لیک کی باید د ارتکاب شوي جرم یادونه وشی او د مرتکب شخص، قرباني، شاهدانو او دولتی استازی له خوا لاسلیک شي (همدارنګه د هغوي د ادرسونو او تلیفون شمیرو یادونه هم وشي).

**د مالیې وزارت ته**

- د ښځو د چارو، حج او اوقافو، عدلیې، عامې روغتیا، اطلاعاتو او کلتور، معارف او لوړو زده کړو وزارتونو ته مناسبې سرچینې برابرې کړي څو له دې لارې دا وزارتونه وکولای شي د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون لاندې خپل مسؤلیتونه ترسره کړي.

- ډاډ حاصل شي چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د عالي کمیسیون او د دې کمیسیون د ولایتي کمیسیونونو فعالیتونه چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له خوا ځواکمن شوي په مناسب ډول تمویل شي.

**نړیوالو تمویل کوونکو ته**

- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي د عالي کمیسیون لپاره د تخنیکي مرستې د پروګرام برابرول.

- د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په موخه د دولتي نوښتونو او د هیواد په کچه د پوهاوي د کمپاین او د ښځو پر وړاندې د خشونت د مخنیوی لپاره د ولایتي کمیسیونونو لپاره روزنې او لا زیات مالي ملاتړ.

- د افغانستان د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان (۲۰۱۸-۲۰۰۸) د پلی کولو په برخه کې د حکومت ملاتړ، په ځانګړې توګه د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په برخه کې د یوې ملي ستراتیژۍ ترتیب او جوړول، او د لومړیتوب د ملي پروګرام "د ټولو لپاره قانون او عدالت" څخه ملاتړ، او د عمل ملی پلان د چټک تطبیق لپاره ظرفیتونو ته وده ورکول.

- د هغو پروګرامونو غځول او د تخنیکي مرستو او ملاتړ برابرول چې موخه یې د ولایتي څارنوالیو او محکمو لپاره په خاص ډول د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون پلی کول دي.

- د ښځو د ساتنې د مرکزونو، پناه ځایونو لپاره کوم چې د خشونت د ښځینه قربانیانو لپاره د امن ځای برابروي، د زیات ملاتړ برابرول. د ځانګړو څانګو او د لوي څارنوال د دفتر دکمیسیونونو لپاره چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي تعقیبوي، زیات ملاتړ.

## ضمیمه ۱ – د ښځي پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون

### بسم الله الرحمن الرحیم

### د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون

### لومړی فصل

### عمومی حکمونه

**مبنی:**

لومړی ماده:

دغه قانون د افغانستان د اساسی قانون د ۲۴ او ۵۴ مادو د حکمونو په رڼا کی وضع شوی دی.

**موخی:**

دویمه ماده:

د دی قانون موخی عبارت دی له:

۱- د ښځی د شرعی او قانونی حقوقو تامینول او د انسانی کرامت ساتل.

۲- د کورنۍ د سلامت ساتل او د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی مسبب د اسلام د سپیڅلی دین د حکمونو مغایر دود، دستور او عاداتو پر علیه مبارزه.

۳- د تاوتریخوالی مجنی علیها (زیانمنه شوی ښځی) یا تاوتریخوالی ته د مخامخی ملاتړ.

۴- د ښځی پر علیه له تاوتریخوالی څخه مخنیوی.

۵- د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی په هکله د عامه پوهاوی او زده کړی تامینول.

۶- د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د جرم د مرتکب عدلی تعقیبول.

**اصطلاحگانی:**

دریمه ماده:

پدی قانون کی لاندی اصطلاحگانی دغه مفاهیم افاده کوی:

۱- ښځه: له بالغو او نابالغو اناثو څخه عبارت ده.

۲- تاوتریخوالی: د دی قانون په ۵ ماده کی د درج شوو اعمالو ارتکاب دی چی د ښځی شخصیت، جسم، مال او روان ته د زیان موجب کیږی.

۳- جنسی تیری (تجاوز): له اجبار او اکره سره یو ځای له بالغی ښځی سره د زنا یا لواط د فعل ارتکاب یا له نابالغی ښځی سره د هغه ارتکاب او یا د ښځی پر عفت او ناموس تیری کول.

۴- په بدو کې ورکول: د قتل، جنسي تيرې يا له ناوړه دود، دستور او عادتونو څخه په پيروۍ په نورو احوالو کې د ديت يا سولې په بدل کې ميره ته د ښځې ورکول.

۵- تحقير: د هغو اعمالو او حرکاتو ارتکاب يا الفاظو استعمالول دي چې د ښځې د شخصيت د اهانت (کوچنی کولو) موجب شي.

۶- تخويف: د هغو اعمالو او حرکاتو ارتکاب يا الفاظو استعمالول دي چې د ښځې د ويرې او ډار د رامنځ ته کيدو موجب شي.

۷- ځورول (آزار او اديت): په هره وسيله يا هر ډول د هغو اعمالو او حرکاتو ارتکاب يا د الفاظو استعمال دي چې د ښځې شخصيت، جسم او روان ته د زيان موجب شي.

۸- اجباري يوازې پريښودل: له شرعي محارمو سره د ښځې له ليدو او کتو څخه منع کول دي.

۹- وقايوي تدبيرونه: هغه عملي اقدامات دي چې د تاوتريخوالي د عواملو د له منځه وړلو او د هغو له پيښيدو څخه د مخنيوي په منظور تر سره کيږي.

۱۰- ملاتړ کوونکي تدبيرونه: هغه عملي اقدامات دي چې د تاوتريخوالي له مجني عليها (زيانمن شوې) څخه د ملاتړ په منظور، نيول کيږي.

**د تاوتريخوالي منع:**

څلورمه ماده:

تاوتريخوالي جرم دی، هيڅوک حق نلري د اوسيدنې په ځای، دولتي يا غير دولتي اداری، مؤسسو، عامه ځايونو، نقليه وسايطو يا نورو ځايونو کې د هغه مرتکب شي، د ارتکاب په صورت کې، د دې قانون د حکمونو مطابق مجازاتيږي.

**د تاوتريخوالي موارد:**

پنځمه ماده:

د ښځې پر عليه د لاندې اعمالو ارتکاب، تاوتريخوالي پيژندل کيږي:

۱- جنسي تيری

۲- فحشاء ته مجبورول

۳- د مجنی عليها د هويت ضبطول او ثبتول او د هغه خپرول په داسې توګه چې د هغې شخصيت ته زيان ورسوي

۴- اور ورته کول يا د کيمياوي، زهري او يا نورو زيان رسوونکو موادو استعمالول

۵- ځان سوځولو يا ځان وژنې او يا د زهري موادو يا نورو زيان رسوونکو موادو استعمالولو ته محبورول

۶- مجروحول يا معلولول

۷- وهل ټکول

۸- د واده په منظور يا بهانه پيرل او پلورل

۹- په بدو کې ورکول

۱۰- اجباری نکاح

۱۱- د واده له حق او یا د زوج د غوره کولو له حق څخه منع

۱۲- د قانونی سن له بشپړیدو د مخه نکاح

۱۳- ښکنځلی، تحقیر او تخویف

۱۴- ځورول (ازارول او اذیت)

۱۵- اجباری یوازی پریښودل (انزوا)

۱۶- د مخدره موادو اعتیاد ته د ښځی مجبورول

۱۷- په ارث کی له تصرف څخه منع کول

۱۸- په شخصی مالونو کی له تصرف څخه منع کول

۱۹- د ښوونی، تحصیل، کار او روعتیایی خدمتونو ته د لاس رسیٔ له حق څخه منع کول

۲۰- اجباری کار

۲۱- د مدنی قانون په ۸۶ ماده کی د درج شوی حکم له په پام کی نیولو پرته، له یوی څخه له زیاتو ښځو سره واده کول

۲۲- د قرابت نفی کول

**د مجنی علیها حقوق:**

شپږمه ماده:

د تاوتریخوالی مجنی علیها د لاندی حقوقو لرونکی ده:

۱- د قانون د حکمونو مطابق د تاوتریخوالی د مرتکب عدلی تعقیبول.

۲- د هغی په موافقه حمایوی مرکز یا د امن کور یا نورو خوندی ځایونو ته لاس رسی.

۳- په وړیا توګه، بیړنیو روغیتایی خدمتونو ته لاس رسی.

۴- د مدافع وکیل یا حقوقی مساعد لرل.

۵- له جرمی عمل څخه د راپیدا شوی زیان جبران.

۶- د نسبتی موضوع محرمیت.

۷- نور هغه حقوق چی په تقنینی سندونو کی اټکل شوی دی.

**ادارو ته مراجعه کول:**

اوومه ماده:

۱- د تاوتریخوالی مجنی علیها، پخپله یا یی خپلوان کولی شی د پولیسو او حقوقو ادارو، محکمو یا نورو اړوندو مراجعو ته په لیکلی توګه شکایت وکړی.

۲- د دی مادی په ۱ فقره کی درج شوی اداری مکلفی دی، رسیدلی شکایت ثبت او د قانون د حکمونو مطابق هغه وڅیړی او د ښځو چارو وزارت په لیکلی توګه خبر کړی.

۳- د ښځو چارو وزارت مکلف دی د تاوتریخوالی د مجنی علیها یا یی د خپلوانو د لیکلی خبرتیا یا مستقیم شکایت له ترلاسه کولو وروسته، د تاوتریخوالی له مجنی علیها سره د اړیکو د تامینولو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسی او عملی یی کړی.

۴- څارنوالی او محکمه مکلف دی، د تاوتریخوالی قضیه په لومړیتوب کی ونیسی او په لنډ وخت کی یی وڅیړی.

۵- د دی مادی په ۱ فقره کی د درج شوو مراجعو مسؤولین مکلف دی، د رسیدلی شکایت د څیړنی په وخت کی، د خاص سلوک کړنلاره چی په دی منظور د تاوتریخوالی د منع د کمیسیون لخوا وضع کیږی، په پام کی ونیسی.

## دویم فصل

## وقایوی او حمایوی تدبیرونه

**د ښځو چارو د وزارت مکلفیت:**

اتمه ماده:

د ښځو چارو وزارت مکلف دی د ښځو پر علیه له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په منظور، د نورو وزارتونو او دولتی او غیر دولتی ادارو او اړوندو مؤسسو په همکاری، لاندی وقایوی او حمایوی تدبیرونه ونیسی:

۱- له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په ډګر کی، د خدمتونو وړاندی کوونکو دولتی او غیردولتی ادارو او مؤسسو د فعالیتونو سمون او د هغو تر منځ د هم غږی تامینول.

۲- د هغوی له شرعی او قانونی حقوقو او وجایبو څخه د ښځی او نارینه د پوهاوی د کچی لوړول.

۳- په حمایوی مرکز یا د هغه نه موجودیت په صورت کی په نورو اړوندو خوندی ځایونو کی د تاوتریخوالی مجنی علیها یا هغه ته مخامخ د حفاظت او ساتنی د زمینی برابرول، او د هغه څارنه او رسیدګی.

۴- د عامه پوهاوی د سطح د لوړولو او د تاوتریخوالی د مواردو او له هغو څخه د راپیدا شوو پایلو د پیژندنی لپاره د دولتی او غیردولتی ادارو، مؤسسو کارکوونکی، ځایی او د کلیو اوسیدونکو ته د سیمینارونو، ورکشاپونو، کنفراسونو او نورو زده کړه ییزو برنامو جوړول او د حل د لارو پیدا کول.

۵- د اړوندو خپرونو له لاری د شرع او قانون په حکمونو مستند د تاوتریخوالی او له هغه څخه د راپیدا شوو پایلو د عواملو توضیح او تشریح کول.

۶- د اړوندو غیردولتی ادارو او مؤسسو د زده کړه ییزو برنامو او کاری ظرفیت له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول.

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مکلفیت:**

نهمه ماده:

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مکلف دی، له تاوتریخوالی ښځه د مخنیوی په منظور، لاندی وقایوی تدبیرونه ونیسی:

۱- د نارینه وو او ښځو د شرعی حقوقو او وجایبو په اړه د موعظو او ویناوو د کولو لپاره د منظمو برنامو ترتیبول او د جوماتونو او تکایاوو (حسینیو) د ملا امامانو، خطیبانو او واعظانو په واسطه د هغو اجرا او له تطبیق څخه یی ډاډ ترلاسه کول.

۲- ملا امامانو، خطیبانو او واعظانو ته د سیمسنارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو جوړول.

۳- د اړوندو خپرونو له لاری د شرع او قانون په حکمونو مستند د تاوتریخوالی او له هغه څخه د راپیدا شوو پایلو د عواملو توضیح کول او تشریح کول.

**د پوهنی او لوړو زده کړو د وزارتونو مکلفیت:**

لسمه ماده:

د پوهنی او لوړو زده کړو وزارتونه مکلف دی، له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په منظور، لاندی تدبیرونه ونیسی:

۱- په اړوند درسی او تحصیلی نصاب کی د تاوتریخوالی او له هغه څخه د راپیدا شوو پایلو او له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی د څرنګوالی اړوندو موضوعګانو ته ځای ورکول.

۲- اړوندو کارکوونکو، زده کوونکو او محصلینو ته سیمینارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو جوړول.

۳- په اړوندو ښوونیز او تحصیلی چاپیریال کی د تاوتریخوالی له پیښیدو څخه د مخنیوی په منظور، د لازمو تدبیرونو نیول.

۴- د اړوندو خپرونو له لاری د شرع او قانون په حکمونو مستند د تاوتریخوالی او له هغه څخه د راپیدا شوو پایلو د عواملو توضیح او تشریح کول.

**د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلفیت:**

یوولسمه ماده:

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلف دی، له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په منظور، لاندی وقایوی تدبیرونه ونیسی:

۱- د تاوتریخوالی د عواملو او له هغه څخه د راپیدا شوو پایلو په هکله د راډیویی او تلویزیونی برنامو تنظیمول او خپرول او په ورځپاڼو، اخبار او جرایدو کی د اړوندو مطالبو خپرول.

۲- د تر لاس لاندی رسینو له لاری د تاوتریخوالی په منع پوری د اړوندو مطالبو د خپرولو او نشر لپاره د وزارتونو، دولتی ادارو او نورو حقیقی او حکمی اشخاصوته د زمینی برابرول.

۳- د ټولنیزو رسنیو له لاری د تاوتریخوالی د رواجوونکو برنامو له خپریدو او نشر څخه مخنیوی.

**د عدلیی وزارت مکلفیت:**

دوولسمه ماده:

د عدلیی وزارت مکلف دی له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په منظور لاندی وقایوی تدبیرونه ونیسی:

۱- له شرعی او قانونی حقوقو څخه، د نارینه او ښځی د پوهی د کچی لوړول.

۲- تر توقیف، حجز او حبس لاندی نارینه او ښځو ته د اړوندو مسؤولینو او نورو ټولنیزو سازمانونو له لاری، د تاوتریخوالی په عواملو او له هغه څخه د راپیداشوو پایلو پوری د اړوندو مطالبو د توضیح کولو او تشریح کولو د زمینی برابرول.

۳- د دی قانون له حکمونو څخه د حقوقو او حقوقی مرستو د ادارو د کارکوونو د پوهی لپاره د سمینارونو او ورکشاپونو جوړول او د هغو د تطبیقولو د ښی زمینی برابرول.

۴- د تاوتریخوالی مجنی علیها د غوښتنی په صورت کی د حقوقی مساعد توظیفول.

**د کورنیو چارو وزارت مکلفیت:**

دیارلسمه ماده:

د کورنیو چارو وزارت مکلف دی، له تاوتریخوالی څخه د مخنیوی په منظور، په ټولو عامه ځایونو کی وقایوی او حمایوی تدبیرونه ونیسی او عملی یی کړی.

**د عامی روغتیا وزارت مکلفیت:**

څوارلسمه ماده:

د عامی روغتیا وزارت مکلف دی، له تاوتریخوالی مجنی علیها د بیړنی او وړیا درملنی او تداوی په منظور، په اړوندو روغتیایی مرکزونو کی اغیزمن او عملی تدبیرونه ونیسی او د هغو له څرنګوالی څخه د ښځو چارو وزارت ته ریپوټ ورکړی.

**د خشونت د منع عالی کمیسیون:**

پنځلسمه ماده:

د تاوتریخوالی د جرمونو پر علیه د اغیزمنی مبارزی او پدی برخه کی د اړوندو دولتی او غیر دولتی ادارو او مؤسسو تر منځ د هم غږی د تامینیدو په منظور، د ښځو چارو د وزارت د وزیر تر ریاست لاندی د ښځی پر علیه د تاوتریخوالی د منع عالی کمیسیون، په لاندی ترکیب جوړیږی:

۱- د لوئی څارنوالی مرستیال

۲- د کورنیو چارو وزارت معین

۳- د عدلیی وزارت معین

۴- د عامی روغتیا وزارت معین

۵- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معین

۶- د پوهنې وزارت معین

۷- د لوړو زده کړو وزارت معین

۸- د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت معین

۹- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت معین

۱۰- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون غړی

۱۱- د کابل ولایت د فامیلی اختصاصی محکمې رئیس

۱۲- د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې (انجمن) رئیس

**د عالی کمیسیون دندې او واکونه:**

شپاړسمه ماده:

(۱) د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع عالی کمیسیون لاندې دندې او واکونه لري:

۱- په هېواد کې د تاوتریخوالی د ارتکاب د عواملو مطالعه او ارزونه او د هغو د لرې کولو لپاره د وقایوی تدبیرونو نیول.

۲- د تاوتریخوالی له ارتکاب څخه د مخنیوی په منظور، د عامه تبلیغاتی او پوهاوی د پروګرامونو طرح کول.

۳- د تاوتریخوالی پر علیه د مبارزې په کار کې د اړوندو دولتی او غیر دولتی ادارو د فعالیتونو د هم غږی کولو تامینول.

۴- د تاوتریخوالی د جرمونو د احصائی او ارقامو راټولول.

۵- د دې قانون د حکمونو د تعدیل په اړه د وړاندیز وړاندې کول.

۶- د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، د مقررو وړاندیز او د اړوندو لایحو او کړنلارو وضع کول.

۷- له پولیسو، څارنوالی او محکمې څخه د تاوتریخوالی د قضیو په هکله د معلوماتو غوښتل.

۸- د تاوتریخوالی په هکله د کلنیو اجراآتو د رپوټ ترتیبول او د وزیزانو شورا ته د هغه وړاندې کول.

۹- نورې هغه دندې چې د حکومت لخوا سپارل کیږی.

(۲) د کمیسیون د فعالیت ډول د هغې لایحې په واسطه چې د کمیسیون لخوا تصوبیږی، تنظیمیږی.

## دریم فصل

## جزایی حکمونه

**جنسی تجاوز:**

اوولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې پر بالغه ښځه باندې د جنسي تیرې مرتکب شي، د جزاء د قانون په ۴۲۶ ماده کې د درج شوی حکم له په پام کې نیولو سره په دوام حبس او د مجنی علیها د مړینې په صورت کې په اعدام محکومیږي.

(۲) هغه شخص چې پر نابالغه ښځه باندې د جنسي تیري مرتکب شي، د جزاء د قانون په ۴۲۶ ماده کې د درج شوی حکم له په پام کې نیولو سره د دوام حبس په اکثر حد او د مجنی علیها د مړینې په صورت کې په اعدام محکومیږي.

(۳) د دې مادې په ۱ او ۲ فقره کې په درج شوو حالاتو کې مرتکب د زیان د جبران په توګه مجنی علیها ته د مثل د مهر د معادل وجهې په ورکولو محکومیږي.

(۴) هغه شخص چې د ښځې پر عفت او ناموس باندې د تیري مرتکب شي، خو د هغه تیري د زنا او لواط په فعل تمام نشي (تفخیذ، مساحقي یا هغو ته د ورته مرتکب شي)، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

(۵) که چیرې د دې مادې په ۴ فقره کې د درج شوی جرم مجنی علیها ۱۸ کلنی سن ته رسیدلې نه وي، یا د جرم مرتکب تر دریيمې درجې پورې خپلوان، مربي، ښوونکې، مستخدم یا د مجنی علیها طبیب وي او یا په یو ډول پر مجنی علیها باندې نفوذ او اختیار ولري، فاعل له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**فحشاء ته مجبورول:**

اتلسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې بالغه ښځه فحشاء ته مجبوروي، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له اوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

(۲) که چیرې د دې مادې په ۱ فقره کې د درج شوی جرم مجنی علیها نابالغه ښځه وي، مرتکب له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

**د مجنی علیها د هویت ضبطول او ثبتول او دهغه خپرول:**

نولسمه ماده:

هغه شخص چې د جنسي تیري او په فحشاء د اجبار جرمونو د مجنی علیها هویت ضبط او ثبت یا یې د قانون له حکم پرته افشاء او یا یې تصویرونه خپاره کړي، پداسې توګه چې شخصیت ته یې زیان ورسوي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

**اور اچونه او د کیمیاوی موادو استعمال:**

شلمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ښځې ته اور واچوي یا یې پر بدن باندې کیمیاوي یا زهري او یا نور ضررناک مواد چې د ټپي کیدو یا معلولیت موجب شي، استعمال کړي یا زهري مواد پر هغې وخوري یا یې په بدن کې زرق کړي، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

(۲) د دې مادې په ۱ فقره کې په درج شوې حالت کې که چیرې د نوموړو اعمالو د ارتکاب موخه له مدني حقوقو څخه د ښځو د حرمان په منظور په ټولنه کې د ویرې او ډار رامنځته کول وي او یا د مجنې علیها په مړینه تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم په دوام حبس یا اعدام محکومیږي.

**ځان سوځونه او ځان وژنه:**

یوویشتمه ماده:

که چیرې ښځه د تاوتریخوالي له امله په ځان سوځولو یا ځان وژنه او یا د کیمیاوي یا زهري موادو او یا ځانته د نورو ضررناکو موادو په استعمالولو مجبوره شي، د تاوتریخوالي عامل د مجنې علیها د ټپي کیدو او معلولیت په صورت کې په متوسط حبس او د مجنې علیها د مړینې په صورت کې، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**ټپ او معلولیت:**

دوه ویشتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ښځه تر ضرب او جرحې لاندې ونیسي، له احوالو سره سم او د جرم د شدت او خفت له په پام کې نیولو سره د جزاء د قانون په (۴۰۷ څخه تر ۴۱۰) مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق مجازاتیږي.

(۲) که چیرې د دې مادې په ۱ فقره کې درج شوي اعمال، د مجنې علیها په مړینه تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم د جزا د قانون په (۳۹۶ څخه تر ۳۹۹) مادو کې درج په اټکل شوې جزاء محکومیږي.

**وهل او ټکول:**

در ویشتمه ماده:

هغه شخص چې ښځه تر وهلو او ټکولو لاندې ونیسي خو پر ټپي کیدو یا معلولیت یې تمام نشي، له احوالو سره سم په لنډ حبس چې له درې میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**د واده په منظور یا بهانه د ښځې پیرل او پلورل:**

څلیریشتمه ماده:

هغه شخص چې ښځه د واده په منظور یا بهانه وپلوري یا یې وپیري یا په هغو کې وساطت وکړي، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**په بدو کې ورکول:**

پنځه ویشتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې په بدو کې د ورکولو په نوم ښځه په نکاح ورکړي یا یې وکړي، په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

(۲) د دې مادې په ۱ فقره کې په درج شوې حالت کې ذیدخل اشخاص (شاهد، وکیل، مصلح او عاقد) هر یو له احوالو سره سم په متوسط حبس محکوم او د نکاح عقد، په بدو کې د ورکړل شوې ښځې د غوښتنې په صورت کې، د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږي.

**اجباري نکاح:**

شپږ ویشتمه ماده:

که چیرې یو شخص، هغه ښځه چې د واده قانوني سن یې بشپړ کړی، د هغې له رضایت پرته کوژده یا یې واده کړي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي محکوم او کوژده او نکاح د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږي.

**د واده له حق څخه ممانعت:**

اوو ویشتمه ماده:

که چیرې شخص د ښځې د واده خنډ وګرځي یا د میړه (زوج) د غوره کولو حق له هغې څخه سلب کړي، له احوالو سره سم په قصیر حبس محکومیږي.

**د قانوني سن له بشپړیدو د مخه نکاح:**

اته ویشتمه ماده:

که چیرې شخص هغه ښځه چې د واده قانوني سن یې نه وي بشپړکړی او د مدني قانون په ۷۱ ماده کې د درج شوی حکم له پام کې نیولو پرته یې د نکاح په عقد کې راولي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي او نکاح د ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږي.

**ښکنځلی، تحقیر یا تخویف:**

نه ویشتمه ماده:

هغه شخص چې ښځې ته شکنځل وکړي یا یې تحقیر او یا تخویف کړي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له دریو میاشتو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

**ازار او اذیت:**

دیرشمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د ښځې د ازار او اذیت مرتکب شي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له دریو میاشتو څخه لږ نه وي، محکومیږي.

(۲) که چیری د دی مادی په ۱ فقره کی درج شوی جرم له موقف او مقام څخه په ګټی اخستنی سره ارتکاب شی، مرتکب له احوالو سره سم په قصیر حبس چی له شپږو میاشتو څخه لږ نه وی، محکومیږی.

**اجباری انزوا:**

یو دیرشمه ماده:

هغه شخص چی ښځه انزوا (یوازیتوب) ته مجبوره کوی، له احوالو سره سم په قصیر حبس چی له دریو میاشتو څخه زیات نه وی، محکومیږی.

**د مخدرو موادو اعتیاد ته د ښځی مجبورول:**

دوه دیرشمه ماده:

هغه شخص چی ښځه د مخدرو موادو اعتیاد ته مجبوره کړی، په قصیر حبس چی له دری میاشتو څخه زیات نه وی، محکومیږی.

**په ارث کی له تصرف څخه منع کول:**

دری دیرشمه ماده:

هغه شخص چی ښځه، د هغی د مورث په متروکه کی د تصرف خنډ شی، د هغی د شرعی ونډی د پرښود برسیره، له احوالو سره سم په قصیرحبس چی له یوی میاشتی څخه زیات نه وی، محکومیږی.

**په مالونو کی له تصرف څخه منع کول:**

څلور دیرشمه ماده:

هغه شخص چی د ښځی شخصی مالونه تصرف یا هغه له تصرف څخه په هغو کی منع کړی، له احوالو سره سم په قصیرحبس چی له دریو میاشتو څخه زیات نه وی، محکوم او مال د ښځی په تصرف کی ورکول کیږی.

**د ښوونی، تحصیل، کار او روغتیایی خدمتونو ته د لاس رسی له حق څخه ممانعت:**

پنځه دیرشمه ماده:

هغه شخص چی ښځه د ښوونی، تحصیل، کار، روغتیایی خدمتونو د لاس رسی د حق او په قوانینو کی له نورو درج شوو حقوقو څخه د ګټی اخستنی مانع شی، له احوالو سره سم په قصیرحبس چی له شپږو میاشتو څخه زیات نه وی، محکومیږی.

**اجباری کار:**

شپږ دیرشمه ماده:

هغه شخص چی ښځه اجباری کار ته اړ باسی، د زیان پر جبران برسیره، له احوالو سره سم په قصیرحبس چی له شپږو میاشتو څخه زیات نه وی، محکومیږی.

**له یوی ښځی نه زیاتو سره واده :**

اووه دیرشمه ماده:

هغه شخص چې د مدني قانون په ۸۶ او ۸۹ مادو کې د درج شوو حکمونو ته په نه پاملرنې سره له یوې ښځې نه زیاتو سره واده وکړي، له احوالو سره سم په لنډ حبس چې له دریو میاشتو څخه لړ نه وي، محکومیږي.

**د قرابت نفی:**

اته دیرشمه ماده:

هغه شخص چې د ښځې له قرابت څخه د میراث له حق یا له نورو شرعي او قانوني حقوقو څخه د هغې د محرومولو په مقصد انکار وکړي، خو قرابت یې د محکمې په حکم ثابت شي، له احوالو سره سم په قصیرحبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**عدلی تعقیب:**

نه دیرشمه ماده:

(۱) د دې قانون له (۲۲ څخه تر ۳۹ پورې) مادو کې د درج شوو جرمونو د اړوندو دعواوو څیړل او د مرتکبینو عدلي تعقیب، د مجني علیها یا د هغې د وکیل د شکایت پر بنسټ صورت مومي.

(۲) مجني علیها کولی شي، د دې مادې په ۱ فقره کې په درج شوو مواردو کې، د عدلي تعقیب په هر پړاو (کشف، تحقیق، محاکمه، یا محکومیت) کې له خپل شکایت خخه تیره (منصرفه) شي، پدې صورت کې د دعوا څیړل او د جزا تطبیق درول (متوقف) کیږي.

**په جرم کی ګډون:**

څلویشتمه ماده:

هغه شخص چې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې له بل شخص سره ګډون وکړي، له احوالو سره سم د جزاء د قانون د (۳۹ او له ۴۱ څخه تر ۴۸ پورې) مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق مجازاتیږي.

**د زیان جبران:**

یو څلویشتمه ماده:

پدې قانون کې د درج شوو جرمونو مرتکبین پر اټکل شوو جزاوو برسیره، له احوالو سره سم د اړول شوی زیان پر جبران هم محکومیږي.

## څلورم فصل

## وروستی حکمونه

**د مجازاتو نه تعلیقول، عفو کول او تخفیفول:**

دوه څلویشتمه ماده:

د تاوتریخوالی د جرمونو د محکومانو مجازات تعلیق،عفو یا تحفیف کیدی نشی.

**ارجحيت:**

دری ځلویشتمه ماده:

که چیری د دی قانون حکم، د نورو نافذه قوانینو د حکمونو له یوه حکم سره په مغایرت کی واقع شی، د دی قانون حکم مرجح ګڼل کیږی.

**انفاذ:**

څلور ځلویشتمه ماده:

دغه قانون په رسمی جریده کی د خپریدو له نیټی څخه نافدیږی.